Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

اهداء

خوادبزگرته

# دشاعر پسرلی

د

## محمد جان (فنا)

PROPERTY OF ACKU
6185

دوهم اثر

مهتمم : قاسم «سوزان»
دچاپ شمیر : ۵۰۰
دچاپ نیټه : وری ۱۳۴۰

# فهرست


| شمېر | شعر | مخ |
|---|---|---|
| ١ | پیل | ١ |
| ٢ | عشق | ١ |
| ٣ | کائنات | ٢ |
| ٤ | دتالندې کوکار | ٤ |
| ٥ | دپسرلی ناوې | ٤ |
| ٦ | بر پښنا | ٧ |
| ٧ | دتوتکي شور | ٨ |
| ٨ | نیالګی | ٩ |
| ٩ | دوربځ ژړا | ١٠ |
| ١٠ | ثاځکی | ١١ |
| ١١ | دبوډۍ ټال | ١٢ |
| ١٢ | دشپونکي شپېلۍ | ١٣ |
| ١٣ | دشقق سره خبرې | ١٤ |
| ١٤ | مېږی څه وایې | ١٥ |
| ١٥ | د هېواد پسرلی | ١٦ |
| ١٦ | اې پیغمانه | ١٩ |
| ١٧ | بڼ | ٢١ |
| ١٨ | سرو | ٢٣ |
| ١٩ | چمن وایی | ٢٣ |
| ٢٠ | دسحر نسیم ته | ٢٣ |
| ٢١ | غوټۍ | ٢٥ |
| ٢٢ | اغزی | ٢٦ |
| ٢٣ | ګل | ٢٧ |
| ٢٤ | دپسرلی ګل | ٢٨ |
| ٢٥ | دبلبل نغمه | ٣٠ |
| ٢٦ | دفوارې ساز | ٣٠ |
| ٢٧ | باد | ٣١ |
| ٢٨ | دتوتی سندرې | ٣٢ |
| ٢٩ | ځانګه | ٣٢ |
| ٣٠ | دحباب خندا | ٣٣ |
| ٣١ | شنه پاڼه | ٣٤ |
| ٣٢ | دسیند دځپو نغمې | ٣٥ |
| ٣٣ | زېړی ګلونه | ٣٥ |
| ٣٤ | خوږ انار | ٣٦ |
| ٣٥ | مڼې ته | ٣٧ |
| ٣٦ | سپین زر | ٣٨ |
| ٣٧ | کیمیا بوټی | ٣٩ |
| ٣٨ | دغنمو وږی | ٤٠ |
| ٣٩ | دمچمچۍ ناره | ٤١ |
| ٤٠ | چینه | ٤٢ |
| ٤١ | منګی | ٤[illegible] |
| ٤٢ | طبی نباتات | ٤٤ |
| ٤٣ | چرس | ٤٤ |
| ٤٤ | یووږی انګوریم | ٤٥ |
| ٤٥ | دام او دانه | ٤٦ |
| ٤٦ | بندی کوتره | ٤٧ |
| ٤٧ | داوریا زمزمه | ٤٧ |
| ٤٨ | واهم یو خیال | ٤٨ |
| ٤٩ | مېوه | ٤٩ |
| ٥٠ | دپښتونخوا غرونه | ٤٩ |
| ٥١ | خاوره | ٥١ |
| ٥٢ | تیږه | ٥١ |
| ٥٣ | کوچی | ٥٢ |
| ٥٤ | آسمانی پېغله | ٥٣ |
| ٥٥ | اوربشې | ٥٥ |
| ٥٦ | شپین زیری مالیار | ٥٦ |
| ٥٧ | دشکوفې جشن | ٥٨ |
| ٥٨ | دارغوان مشعل | ٥٩ |
| ٥٩ | دور پښمو چنجی | ٥٩ |
| ٦٠ | دشبنم مرغلرې | ٦٠ |
| ٦١ | مرګ او ژوند | ٦١ |
| ٦٢ | دبزګر چیغه | ٦٢ |
| ٦٣ | خپشاوه | ٦٢ |
| ٦٤ | تمباکو څه وایی | ٦٣ |
| ٦٥ | غاټول | ٦٤ |
| ٦٦ | قفس | ٦٥ |
| ٦٧ | زرکې ته | ٦٦ |
| ٦٨ | ګلچین شاعر | ٦٧ |
| ٦٩ | خزان | ٦٧ |
| ٧٠ | پای | ٦٨ |

*(الف)*

# ښاغلی «مجروح» تقریظ

## ښاغلی فنا.

ستا داشعار و مجموعه چه ما ته دې را کړې وه ما و کتله، او ځو شعرونه چه دې ما ولیدل خدای شته ډېر مې خوښ شو او ډېر خوند یې را کړ.

ستا په بعض شعرونو کښې شعري لطافت او ادبي قوت له ورایه ښکاری تا چه د شعرونو د پاره کومې موضوع گانې ټاکلی او کوم عنوانونه چه دې پیدا کړی دی دا پخپله ستا په ښه استعداد او ستا په ښه قریحه دلالت کوی.

که ته خپل ادبي تکامل سیر ته دوام ورکړی او په دې لار کښې ځو قدمه نور مخکښې لاړ شې، د پښتو په شاعری کښې به یو ښه پیاوړی شاعر داعلامو په فهرست کښې زیات شی؛ او د پښتو ادب سنگر کښې به یو بل ښه سپاهی پیدا شی او هغه به ته یې!

ته فنا یې مگر داده او سه شعر به دې دایم باقی وی که خدای کول.

سید شمس الدین «مجروح»

۱۹

## د ښاغلي «الفت» تقريظ

دشاعرپسرلي دښاغلي فناصافي داشعارومجموعه ده چه په شاعرانه او ادبي رنګ کښي ئې د اجتماعي ژوند نـاوړه خـواوې له انتقاد لاندې نيولي دي دا اشعار دمضمون او موضوع په لحاظ دطبيعت لهمظاهرو او بشري فطرت سره ډير ارتباط لري.

دغهځلمي شاعر يوازې لهګل اوبلبل سره کار نلري دوطن لهاغزوسره هم آشنا دی اودهيواد لههرکاڼي بوټي سرهمينه او علاقهلري دده دځينو اشعارو عنوانونه کهدغنمو و ږی، ځانګه، شنه پاڼه تيږه، خاوره ، اغزی‌منګی، چينهاوداسې نورد نورو پهاشعارو کښي دغومره نهمومو .

فنا پهدغسي موضوعاتو کښي ډير ښه نکات اومطالب پيدا کړی‌دي‌اواشعار بې اصلاحي رنګ لري ، ژبه يې ساده او روانه ده اوپه شعري پيرايه کښي ځيني‌اجتماعي معايبو ته‌ګوته‌نيسي‌مثلاً دپسرلي ګل پهخبرو راولي‌اوداپرې‌وايي:

چه غوټۍ وم له نسيمه شرمېدمه ✲ په شنو پاڼو کښي بلبل نه پټېدمه
دوږ مې په تخنولو په خندا شوم ✲ د بلبل خوږو نغمو سره آشناشوم
. . . . . . . . . . . ✲ . . . . . . . . . . .
کله ظلم ماله خپل بوټي جدا کړی ✲ پهبازارکښي‌مې‌پيسوباندې‌سوداکړی
لکه ښکلې‌ښکلي پېغلي چهخرڅيږم ✲ زما نشان نهيم لهننګهمړاوی کيږم

✲ ✲ ✲ ✲ ✲

همدا رنګه د تيږې له سنګين عنوان لاندې چه ظاهراً شاعرانه عنوان نه معلوميږی خپل شعر پهشاعرانه رنګ داسې شروع کوي :

«دخو بانو دزړه تشبيه له ماسره کيږی ، دعدالت په تله‌کښي دکم او زيات مقياس او معيار زهيم ، زمرد لعل‌اوياقوت زما نومونه دي، طلا اولاجورد زما په غيږ کښي ځای لري ، د وطن دخپلواکۍ پهجګړه‌کښي د مجاهد ينو سنګرزهيم له مانه د عزم اوثبات کلک درس واخله، دهرې ماڼۍ او ودانۍ تهداب زه يم او ددنيالوړې ماڼۍ اوښکلې بنګلې په مابانديې‌ټينګې‌ولاړې‌دي»

له دغې لنډې تبصرې نهښکاري د ښاغلي فنا دشعر رنګ او ږ و ل څه نه څه معلوم شوی‌وی، زه‌دغه‌اشعاردقدروړبولم اوپه‌ښه سترګه‌ورته‌ګورم.

۳۸/۸/۱۲ ګل پاچا «الفت»

## دښاغلي «بېنوا» تقريظ

دفنا پسرلی مې وکوت ، خو دادهغه فنا پسرلی نه دی چه پسرلی يې د بقا خزان وی، بلکه لهدې پسرلی څخه پخپله دبقابوی پورته کيږی .

زه د فنا شاعرانه جذ باتو ته په درنه سترگه گورم، خصوصاً دده ساده او روان سبك دستايلو وړدی .

هيله ده چهدده دا پسرلی به خزان ونهلریاوپرلهپسې به رنگارنگ گلونه ددهدطبع پهبڼ کې پهغوړيدووی ،چهد ذوق دخاوندانودماغونهمعطر کړی، اوداهغه وخت کيدایشی چه دی په خپله دښکلا پهتماشوکی فناشی لکه چهپخپلهوايی:

«فنا» شوی د ښکلا په تما شويم
ماجار کړی ستالهمخ نهدیهزار بڼ

۳۸/۷/۱۹ عبدالرؤف «بينوا»

★ ★

# دبناغلی «ربنتین» تقریظ

دشاعر دپسرلی له ننداري خخه مي پوره‌خوند واخیست، ددي پسرلی غوټی رومبی په حمد او ثنا او بیا دعشق په ستاینه خو له‌پرانستې ده. په دې پسرلی کښی رنګار نګ ګلونه غوړیدلیدلی او هررازوزمې پکښې‌چلېدلی دی .

په‌دی ګلونو کښی یو خوږ بوی پروت‌دی ؛چه‌دهرچاږونه‌پرې‌تازه کیږي

په‌دی پسرلی‌کښی په‌مزه‌مزه دبلبل نغمې، دتوتیانو سندرې دسینددځپو شور د شپونکی دشپېلۍ سوزناکې چیغې‌اور پدل کیږي.

ددې پسرلی دسحر په نسیم مخ پڼې غوټۍ غوړیږي، د دې پسرلی باد دخوارانو پیغامونه‌شته‌منو ته‌رسوي:

• دخوارانو پیغامونه را سره دی ★ رسوم ئې د بډای عشرت‌سرای ته

غرض داچه‌دشاعرپه‌پسرلی‌کښی دژوندانه ډېر رازونه اوخوندونه‌شته‌دی.

لکه بوی چه‌دګل په‌پاڼه کښې پټ دی دغسې فنا هم په خپلو اشعارو کښې ځان نغښتی دی خودده دروانې اونازولې‌نرمې‌طبعې‌پلوشې‌پکښې‌غلی‌غلی‌ځلیږي.

داسې‌ښکاری چه‌فنادزړه په‌فتوه شعر وایی‌اودزړه‌دخا وندانو دپاره یې‌وایی نوځکه‌په‌زړه کښی‌لارپیداکوی زه پوره هیله لرم چه‌داځلمی شاعربه‌نورهم‌دشعر پسرلی ښایسته کاندی او دشعر دباغ‌وبڼ ګلانو ته به‌نوره تازګی هم ورببښي.

۳۸/۱۰/۱۴ صدیق‌الله«ربنتین»

★ ★ ★

# د شاعر پسرلی

## یا نوی گل

لکه ځرنګه چه په ناغوړېدلی غوټۍ کښې رنګ او بوی پټ دی همداسې
په هر زړه کښې ډېرې نیمګړې آرزوګانې او نیمه خوا ارمانونه شته .
او لکه ځرنګه چه د وزمې په سحر د غوټۍ د مخ حجاب او پرده لکه
د بنا پېریانو په قلمرو کښې د زړو طلسم په ځېرمات او بېرته‌شی، همداسې دالهام
اومفکورې له مخې پرده لېرې کیږی اودشعر په ژبه دده دآرزوګانو
د شاعر د زخمی زړه د داغونو په ګلخانه کښې د ننه د آرزوګانو معما تفسیرېږی
وکړه ، دا غوټۍ خو ځکه د مجهولو او مرموزو آرزوګانو غوټۍ هم وده
رنځور شاعر د درد مند اوغمناك ژوند خزان کښې د آه او ا وسپلیو د نسیم
په چلېد و د نوی ګل پشان غوړېدلی او د ځلمیتوب په تودو وینواو اوښکو
اوبه شوې ده .

دا نوی ګل معنوی ګل ذی . د دې ګل بلبل شاعر، باغ د شاعر زړه اومالیار
د شاعر پاکې آرزوګانې دی .
که څه هم داګل ظاهری رنګ وبوی او د صورت سنګار نلری خود سیرت
ښکلا اوعطر پکښې شته .
د دې ګل تنکۍ پاڼه ظاهراً د ښکلو ناز کو بار خوګانو پشان رنګینه ده
خو په باطن کښې د درد مند شاعر دزړه بڼې اود بېوزلو خوارانو دابترو ځېرو
او د یتیمانو دځپېړو ځپلو مخونو هنداره ده .
داګل کله کله د شړشم دګلو پشان د بېوزلو تیارې خونې روڼې کوی یادشهیدد قبر
سر ته دلاله د څراغ په ځېر سوزی .
او کله کله داګلان د جنتی شانتې هېواد دوچو میرواو دښتونو د تورو خاورو په
غېږ کښې ، د لاجورد دتك شین آسمان دلاندې د زمردو په شنو شنو چمنونو
کښې د سرو زرو د زېړ وګلونو په رنګ یا د لعل او یا قوت دغا ټول پشان
را شنه کېږی اودنا پوهۍ اوبیکارۍ او یا د بېوسیلګۍ په تورتم کښې زمونږ د
حیات په اوبو وده کوی .
هو! د دې نوی ګل معجزه خو داده چه که څه هم یو ګل دی خو ډېر رنګونه

لري، ددې ګل درنګونو ليدل اويا اودبوی اوعطر دکيفيت اوماهيت کشفول او بويول ډېره باريکه نازولې قريحه اوحقيقي بصيرت غواړی او که نه ډېرممکن دی چه داګل لکه د وچو ميرو دمغيلان پشان سترګو ته دا غزی په څېر ودرېږی .

د دې معنوی ګل په هنداره کښې د شاعر د حقيقي هدف مقصد ا و مرا م څېره اود افـکارو خيالونو ، اندېښنو او تصوراتو تصويرله ورايه معلومېږی پردې ګل باندې دپسرلی باران اوزلی، دخزان طوفانی بادونه اودژمی دو اورو يخنی څه اغېزه نشي کولای .

ځکه چه د دې معنوی ګل تازګی اوطراوت د ذوقو نو د سمسورتيا ، د افکارو د طراوت او د دماغونو د تازګی پورې تړلی د ی .

يواځې ا و يواځې هغه وخت چه د زړو افکارو خزان پرې راشي او ياد مړاوو احساساتواومړوذوقونوساړه بادونه پرې ولګېږی نومړاوی اوبياپاڼې پاڼې شی .

او دا هغه وخت د ی چه د شاعر د رنـګينو ګـلانو ځينې ډک د اشعارو ديوان د زمانې دګلچين لاس ته ولوېږی ، پاڼې پاڼې وشکېږی اولکه زېړې وچې پاڼې د مړو ذوقونو دګلخن په انګارکښې وسوزېږی او لکه څرنګه چه د مادې او ژوند سرنوشت دې محو اوفنا شی .

هو! د ا ګل درنځورې ځوانی او د دردمند ځلميتوب د پسرلی اوشاعرانه ژوند يونوی ګل دی چه دپرېشانو افکارو په بڼ اودرنګينو خيالونو په ګلشن کښې غوړېدلی دی اوپه همدې يوګل د شاعر د تخيل دنيا پسرلی شوی دی .

هو! دا پسرلی د شاعر پسرلی دی ، او د شا عر پسرلی ځا نته يوه عجيبه دنيا لری له دې کبله چه د شاعرانو د تخيل او تفکر ډول سره توپيرلری نو پسرلی هم هر شاعر ته په مخصوص رنګ ځان ورښيی او هر شاعر پسرلی ته د خپل ذوق اوقريحې په سترګه ګوری .

ديوه شاعر د عشق اومينې په دنيا کښې هم د حسن ګلشنونه ، د ښکلا چمنونه اودښايست ګلزارونه شته .

د سرو شونډو و غوټی چه د خند ا په نسيم و غوړېږی ، د تورو سترګو نرګس چه د بها ر ی په خما ر سره شی ، د جـګو د نـګونښتری قـا متـو نـو د ناز رفتار چه قيا متونه او محشرونه را ولی د سپينې سينې په باغچه کښې چه انارګل نيسی ، په سورګلا لی مخ باندې چه د تور خط سبزه را خپېږی ، د ناز نازبو چه د شاعر دماغ معطروی اومستوی ، د پيکی اوخال دام ودانه چه

۱ زړونه ښکاروی‌دا ټول دحسن‌ا وښکلاپه جها ن‌کښې دشاعردعشق‌پسرلی‌تمثیلوی
کله چه د مینې مستې پېغلې فرشتې په اوربل یا زلفو کښې زېړ گل و ټومبی
نودمین شاعر د بخت اوطالع ستوری وځلېږی اود نا کا مې مینې دبیلتانه په
تورو شپو کښې یې ډیوه ولېگېږی اودمینې دا رڼا د ده پرسرد سروزرو خیالی
تاج زدی .

خود بل شاعر په نظرکښې بیا د شاعر پسرلی‌د حسن اوښکلا دپسرلی نه‌هم ډېر
لوړ او اوچت دی ، دا ځکه چه حسن اوجمال خزان‌لری اؤ شا عر نه غوا ړی
چه د ده شعر دې هم خزان‌ولری .
د ده آرزو داده چه د شعر پسرلی دې تل پسرلی و ی.
نوددې شاعردپسرلی د بڼ دونوښکلې‌څانگې په ژمې کښې هم شکوفه‌کو ی او
د خزانی وچوپاڼو تویېدل یې هم د زېړوگلونو جوړ باغ دی .
نو ځکه دا شاعر د خط وخال د توصیف لاره پرېښې ده او داجتماعی‌نیمگړتیاو
د اصلاح د پاره د تنقید په لارروان دی او غواړی چه :
فرد و و ایی د جا معې د پاره ا و نن شعر و وایی هغه هم د صبا د پا ر ه .
هو! د دی نـوی پســرلی نو ی گل د نوی عصر د نوی ځلمی‌شا عرنوی شعر
د ی . هغه شاعر چه د طبیعت د ښکلی پسرلی دجمال او ښایست په نندارتون
کښې لېز شانتې د تخیل ا و تفکر پرده بېرته‌کړېده او ډېرې رنگینې ننداری
او صحنې یې لیدلی دی .

خو بیا هم د ده نظر د طبیعی مظـاهر و په ظاهری خط و خا ل ا و ښـکلا
ندی غو لېد لی ، له ظواهرونه یو څه وړاندې د طبیعت د عنا صر و دباطنی
کیفیا تو ا و خواصو د ادراك فلسفې ته ور نژدې او ښه ځیر اوژور شویدی
دشاعرانه اندېښنو اوتعقل‌دمنطق په‌اساس‌یې د ځینوعناصرو دحال دژبې نطق او
خبرو ته غوږ نیولی ا و د دوی سره غبږېد لی اوراز و نیاز یې کړی د ی .
دلته د شاعر نازولی خیال د بوډۍ په ټال کښې د زېړو ، سرو ، شنواوسپینو
ښاپېریوسره زانگی .
شاعر چه‌کله وگوری لمریا سپوږمۍ د تورو ورېځو په څادرکښې مخ نغښتی
دی نوهله د باران د ژړا په معنی پوه شی اوځان غلی کړی ..
هو د شا عر د خیالونو په آسمان کښې د اندېښنو خړې ورېځې شته خو د ښه
صورت‌د حجاب په څېرننگین‌سیرتونه ورلاندی ندی پټ شوی ، کومې څاڅکې

چه لدې ورېځو نه اورېږی هغه د درد نيمه خوا او پاکې اوښکې دی .
دلــتــه د آب يــو ځاځکی له در ،گوهر اومرغلرونه اود آبرو آب حيات له الماسونه هم ډېر گران دی

هو ! شاعر ته ژړا، آبرو ، دحيا خولــې اود ژوند او به د ځاځکو په پياله کښې ، ځــان ورښيي او د شفق په هنداره کښې دنا پاکور نگينو لمنو تماشا او دبېگناهوو ينو دطوفان ننداره کوی.

د شاعر د ورېځو اوځاځکو په کنايه او استعاره کښې معنی بې پردې اوبې آبه شوې نده .

د شاعر د پسرلــی تــا لــندې د آسمــانونود ( سا ، رې ، گــه ،مه ، په ،ده نی) په اوو پردو کښې دژوند زيراوبم ساز غږوی

ددې پسرلی برېښنا چه د مثبت او منفی نه پيدا ده دنراوښځی داشتراك مساعی گټور زېری دپوې روښانې آيندې د افق په سرليك کښې په سرو وزرو ليکی .

هو! داد شاغر شعر دی چه د پاك خدای د قدرتو نود پېژندلواوښودلو د پاره شنه پاڼه د ثنا اوصفت د ژبې په نامه ستايی .

دا يواځې شاعر دی چه د بلبل په ژبه پوهېږی او د بلبل د خوږو نغمو او سندرو داسې تفسير کوی چه په گلرخانو کښې وفا او په پسرلی کښې بقانشته خونه هغه شاعر چه د غوړمالی اومداحی ترانې ووايی

شاعرخوځکه اغزی ته په ښو سترگو گوری چه خنجراو نښتر يې په لاس کښې نيولی دی او دښکلو گلرخانو اونازولو خوبانو په خاطرد گلرنگين او ښکلی مخ له ناپاك او بدنظر نه ساتی.

هو د دې شاعر د پسرلی اغزی د بېوزلو په لو ځو ښو کښې نه چوخېږی .

د دام او دانې ماجرا شاعر ته درشوت خوروا و خاينانو گرفتاری اود ظالمانو غرغره کول وريه يادوی .

د شاعر د پسرلی په دام کښې دريا د تسبو پشان سپينې کوترې نه کښېوزی او د چال وفريب په لومه کښې د مرغی پځای انسان نه گيرېږی .

کله چه دلمر دزرينو وړانکو په تاو کښې شبنم د گل له پاڼې نه هوا کوی ده ته په گلاليو مخونو باندې دشرم و حياد خولو دانې او يــا د سرخ رويو کسانو بې آبی ور په زړه کېږی.

هو دشاعرخمخانه اوميخانه دانگورودانه ده

شاعر دپسرلی پهمکتب کښې دسپینو روڼو او بونه دصفا او حر کت سبق
او د شین زرغون بڼ په مدرسه کښې دسروی له ونې نه د ثبات استقا مت
او راستی درس اخلی او پوهېږی چهدراستی ثمر تل زرغون دی.
دفواري ساز دمدو جزر په زیروبم کښې حساس شاعر ته دعروج او زوال
دترقی او تنزل د وجود او دعدم د ژونـد او مرگ پند او عبرت ورکـوی
دردېدلی شاعرتش دآبشار د منظري په ښکلا نهغولېږی.
ده ته د دې منظري په لیدلو د یتیمانو ژړا او د مظلومانو انگولاورپهیادېږی
د شاعر تېز نظر دېنبې په غوز کښې د سپین سروکنډوښځو خرخه د غریبانو
د خامتا اودمړو د کفن کارگاه لیدلای شی
د سیندد اوبو چپې د شاعر پـه غـوز کـښې دوچـو میـرو سنـدرې وایې .
خا نگه د شا عر د شعر په ژبه انسا نانو ته وایی چـه : ز ه مېوه لر م او د
خوارانوغریبانو د پاره د طبیعت د تعاون‌اومرستې لاس‌یم اې بډایا نو تاسو هم
خوارانو او له پښولوېدلوته د مرستې لاس ورکړیء او اې ظا لمانو اوزورورو
په ضعیفانو اوناتوانو باندې دآزار لاس مه پورته کویء .
خوارشاعر وچیخانگې ته ځکه په توده مینهگوری چه په ژمی کښې دخوارانو
سړې کوټې تودوی .
د شاعر په نظر کښې هربوټی او خنډو خاردکاروز یاراودلوړهمت د سیور ی
لاندی کیمیا بوټی دی .
د تمباکو د پاڼې د حال په ژبه یواځې‌شاعر پوهېږی چهوایی:
د پیسـو سـوزول زما چال او سره زر په ایـروبـدلول زمـا کـمال د ی .
کله چه آزاد شاعر په قفس‌کښې دبندی توتی ، اسیر مارغه اوگرفتار بلبل‌او
یا د انسانی عاطفې په لاس‌کښې دبنده شومې زرکې او کوترې غمجنې نغمې او
په انسانی رحم‌باندې دنفرین‌استولودردناکې ترانې واوری هلته بیا دصیادانو
د خـم او چم پـه لیدلو د استعماری شوم سیاست د چا ل وفرېب د خاطرو په
فکر ولوېږی .
اوکله چه په بازار کښې درنگینو د ستودستوگلانو خرخول د شاعر په سترگو
کښې دا غزیو په څېر چوخ شی بیانود ښکلو رنگینوپېغلود خرڅو لوپه سودا
کښې ولوېږ ی اودگـلچین لاس ورته د خونخوارو ظالمانو درنگینو منـدکلو
پشان سورښکاری

هوا
شاعرته د طبیعت د پسرلی د عناصر و سره د رازو نیازپه پا ی کښې دا پټه ولګېږی چه څرنګه نبات او حیوان د بشر په انسانی نیمګړ تیا ؤ با ندې استهزاء مسخرې او لوبې کوی .
بیا نو حساس او درد مند شاعر په دې هم قانع شی چه بنایی داجتماع بڼدې د لوز ا و رمبی په ځا ی کله کله په برچه هم خپشاوه شی ، د ظلم د بوټی بېخ او ریښه دې ر ا وایستل شی ، دوطن دېرمختګ او نهضت لاردې د مضرو نباتاتو له خنډو خاره پاك اونوی ګلان او نیالګی دې وروزل شی .
اوف !
د شاعر تخیل هم د ډېر ولوړو الوتنو په پای کښې ستړی ستومانه شی .
شاعر هم دتفکراو اندېښنوله‌فضا نه د خپلواشعار و دپسرلی‌بڼ ته رابښکته شی.
هو د ده د شعر په بڼ کښې د پسرلی ښکلې پېغلې د نوی‌کال د څلمی سره ودېږی ، او د خوشحالی په دې محفل کښې بلبل سندرې ، کوتره نغمې‌توتی بدلې ، زرك چاربیتې ، پاختکه غزلې او قمری خوږې خوږې مسرې وایی .
د باد د سندرو دزیراو بم د سرو تال سره څانګې او پاڼی چك چکې کو ی اوسروه په چمن کښې ناڅی .
آه !
که څه هم د درد مند شا عر د زړه ارمان دا ښکاری شعر دبکرې پېغلې سره غاړه غړی کېدل و .
خو افسوس چه‌دا وصل ور میسر نه شو اوبیا هم د طبیعت د ښکلا اودا سرارو اورما یزو د تو صیف نه عاجز راغی .
او د دې عجیب وغریب پسرلی دسحرجن بڼ اودشعر و ادب له ګلزارنه‌یې تش یوڅو خیالی وزی او معنوی ګلا ن او یو څه خنډ و خار را ټول کړه او بس چه‌ګوندې هغه به هم د دې مادی زمانې په‌بازارکښې څه ادبی‌قیمت او معنوی رزښت ونلری .

**محمدجان « فنا » صافی**

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیل

ستا په‌نوم چه هم رحمن او هم رحیم ئې
هم اول آخر او هم قدیم حکیم ئې
له رجیم شیطان نه امن پناه غواړم
زما د پیره گناه کمه چه عظیم ئی

# عشق

عشق د مینې او رښتیا وفا جوهر دی
د اخلاص او قربانئ ایثار هنر دی
دزړه نور د روح آواز د ژوند ثمر دی
دا الهام د خولې اقرار د زړه باور دی

# کائنات

په ډېر ځیرو ګوره د یدار د کائناتو
ځان لږ پوه کړه په اسرار د کائناتو

دهر چا قسمت تقدیر دی ټاکل شوی
لوی ښښتن لری اختیار د کائناتو

تحول د شپې او ورځ دده په حکم
د خالق رضا مدار د کائناتو

دی حاکم د حکومت دټول عالم دی
مناسب ورته دربار دکائناتو

دا نړۍ ده جوړه شوې ډېره ښکلې
په صنعت د کردګار دکائناتو

محبت به درنه هېر شي د خوبانو
که دې ولیده سنګار د کائناتو

یو نظر وګوره چمن ګلشن بیدیاته
څه ښایست لری بهار دکائناتو

په دښتونو کښې اغزی په کښې ګلان دی
غم او عیش دی په کنار دکائناتو

د لیدو او اندېښنو د پاره وړ دی
لاله زار او خاره زار دکائناتو

ښه ور ځیر شه چه په څه حکمت جوړ شوی
د قدرت په لاس اشجار دکائناتو

پسرلی شي او بیا دوبی منی ژمی
یو ګړی نشته قرار دکائناتو

کله باد شي یا طوفان د سېلاونو
د اوبه خاوری غبار دکائناتو

کله واوره او باران کله ژلۍ شي
را او رېږي په خپل وار دکائناتو

ټول انسان حیوان نبات پکښې شامل دی
نامعلوم دی ټول مقدار دکائناتو

که دېوان دی که ملک که جن پری ده
ټول شامل دی په قطار دکائناتو

د مرغانو آوازو نوته غوږ کښېږده
ډک له کیفه مرغزار دکائناتو

ته د لمر اودسپوږمۍ رڼا ته ګوره
منور شه په انوار دکائناتو

لعل یا قوت اوزمرد دخاورو لاندې
عجایب دی بې شمار دکائناتو

د ثبات استقامت عزم ټینګوالی
و اخله درس له کوهسار دکائناتو

په دوران کښې بې نقصان او کمی نشته
تل مدام جاری دی کار دکائناتو

ښه ئې ښکلو منظروته نظر وکړه
روح تازه کړه په دیدار دکائناتو

کوم صفت چه ورته وړ او مناسب وی
څوک ئې نشی کړی اظهار دکائناتو

په لکولکو پردې د تماشې وړ
ننداروته دی په هزار دکائناتو

د قدرت په نندارو کښې (فنا) شوی
زه مېن یم په دلدار د کائناتو

# د تالندې کوکار

پـای دژمـي د بهار د ژوند آغـاز یم
تـرانه د مرگ اوژونـد نشیب فراز یم
چـه را وړی مي پیغام د نو ی کال دی
نـو قـاصد د نوی ژوند او نوی راز یم
د نبات او دانسان حیوان پـه غـوږ کښې
پو کومـه د ژ و نـد سا غیبي آواز یم
مړاوي ځمکې ته چه نغښتې ده کفن کښې
غزوم د ژونـد ربـاب مـاهر شهباز یم
سازې گه مه یه د ه نی مي آسمانـونـه
داو وېـر دو عجب زیـر و بـم سـاز یم
زه غږ بـزم د (فنا) د زړه پـر دوکښې
ما د زړه په غوږو واوره چه اعجاز یم

# د پسرلی ناوې

نو ی کا ل نو ې هوانوی بها ر دی
نوی ژوند نوی جنبش نوی روزگاردی
چه هیوادمو هم هودان او هم سمسورشي
وخت دگښت او بزگرکه اونوی کاردی
نوې سا په طبیعت کښې را پیداشوه
ژوندی شوی په قدرت دگر دگاردی

دشنو پا نو په د فتر کښې ليکل شوی
کائناتو کښې دخدائ قدرت آشکاردی
چه نسيم په چلېد و شو هرې خواته
له هو سه پـه نخا و ر ته ځنا ر دی
د سپين زر پشان و يالې اوبونه ډکې
په نارو په چيغېد و روان آ بشاردی
د ځپو اود مو جـو پـه خـوزه ژبـه
په توصيف دپسرلی کښې سيند اقراردی
ياسمن لمن لمن چمن خوشبوی کړو
معطره د گلشن د ر و د يو ا ر د ی
دکا کـل پشان چه وغوړېد سنبل بيا
بې قيمته مشک دچين او د تاتاردی
نازبو بيا په نخر و چمن تـه را غله
بيا مشغو له نسترن پخپل سينګاردی
سروه بيا دپسرلی بيرغ را جګ کړو
دګلا نو هره خواکښې تودبازار دی
آسمان شين دی لاجوردغوندې روښانه
لمن ډ که په لا له د کـو هسار د ی
شرو شور نه قيامت جو ړ که مرغانو
له مرغانو ځينې ډک چه مرغزاردی
د پا ختکو او کوترو کاروان راغی
دکار غانو خېل ملکو ځينې فراردی
قمري جوړه کړه پهسروه کښې بياجاله
پهدښتونو کښې بيازرک پهنازرفتاردی
هنګا مې د محبت تـازه شو ې
بلبل بياپه شور فريادا و په چيغاردی

دچمن بوټي طاؤس غوندې ښايسته شول
شين توتي په شان باغونکښې په ګفتاردی
تورو خاورونه راشنه شول سره ګلان بيا
سور ګلاب دتور بورا دمينې يـاری دی
توبې ماتې کړه چه وخت دعيش ونوش شو
ساقي راکړه ځو پيالې چه نـوبهار دی
پرخه بيا دګـل ګـلاب کړه مېلمه شوه
لکه ډوب چه په خولو ديـار رخسار دی
شکوفې د غوړيـد و ځادر په سر کـړو
پـه غاړه ورتـه ځلمی د شا خسار دی
د غوټـې نجونـې شوې نـاوې د بلبلو
خو د ټولو زړو نه بيا زخمی په خاردی
د چـمـن پېغله د بـاغ ځلمی واده شول
پهر ځای کښې دخوښی مجلس روی کاردی
ملکـه د عطرو بوی چـمـن تـه راغـلـه
شـاهنشاه د پسرلـی کـړی دربار دی
بـيـا تـازه شـو د لا لـه د ځـګر زخـم
د مين د زړه شاهد ګـل د انـار دی
د ربنتين عشق کاروانو نه خو ځېدلی
او د شمعې د لمبو نـه پتنګ جار دی
راروانه قافلـه شـوه د ارمان بـيـا
روح تـازه دچـمـنـونـو په ديـدار دی
په ذوقونو کښې مستی ګرمی پيدا شوه
دګل بوی وړی هرچا ځېنې اختيار دی
غوړيدلی دی غوټی د شعر په بن کښې
بيا مې زړه له جوش خروشه بيقرار دی

د نړۍ په دې بهار او نوی ژوند کښې
د ( فنا ) قسمت د مينې افتخاری دی

# بر ېښنا

زه د تورو وريځو شپه کښې ښه رڼا يم
د تنبلو ګمراهانو رهنمايم
مترو که يمه داور د سرعت پلاس کښې
زه جنبش او حرکت غواړم برېښنايم
وکړه کار چه پسرلی غونډې زرغون شي
د روښانې آينډې يوه ځلايم
په هر ځای کښې غم ښادی سره شريك وی
باران ژاړی زه د سرو شونډو خندايم
ځلمو پېغلو سره يو شیء په هر کار کښې
ګوریء زه هم له منفي مثبت پيدايم
يوپر خون آه د شاعر له سوی زړه نه
يوه څړيکه د درد مند شعر د نوايم
د پښتو شعر د افق په سرلوحه کښې
زه به وليکم په سرو زرو ( فنا ) يم



# د توتکی
# شور

غاړه‌مې‌سره‌ده‌خوخونداره‌نه‌یم
سینه مې سپینه ریا کاره نه یم

زه تور او سپین او سره رنگونه لرم
دو رنگی نلرم مکا ر ه نه یم

که څه هم زیاتې لرم توري بڼې
خوزړه‌مې سپین دی گنهگاره‌نه‌یم

لکۍ مې دوه تاره ده‌ځیر شه ورته
زه تش گفتار او بی کر داره‌نه‌یم

ما چه پیغام د نوی کال را وړی
نو د زوړ فکر طر فداره نه یم

زه انسان نه‌یم هم جنس نه‌خوروم
(فنا) ظا لمه ستمگا ر ه نه یم

# نیالګی

د صبا بنه غټه و نه نن نیا لګی یم
زه که نن یمه ما شوم صبا ځلمی یم

زه بهستا دلاس امما شمه یووخت کښې
ما ته مه ګوره په کمه که کمکی یم

تر بیې نه مې یورپ هم غافل نشې
کهنه ستر ګو کښې دګل پځای اغزی یم

که له ما نه ثمر غواړې و مې روزه
پروړش کهمې و نشی وچ لرګی یم

بې آبیه نهمې بنه سا ته چه و چیږم
کهمې آب (فنا) په ځای ونو سړی یم

# دوریځ ژړا

کله پرده شم دقمر په مخ کښې
کله څادر یمه دلمر په مخ کښې
یا مشتری ته جوړ نقاب شمه زه
یا دزهرې دمخ حجاب شمه زه
تالندې ورشه دا طلسم که مات
تورتم نه و باسه او به د حیات
برېښنا ، دغرونو بنا پیر ی ته وایه
دتورو شپو سپینې سپوږمۍ ته وایه
دابه ترڅوېې په تورتم کښې ډوبه
دموجوداتو په عدم کښې ډوبه
نوی بهار نوی نهضت نوی ژوند
نوی جهان نوی ارمان نوی خوند
پلوکه لېرې چه رڼا شی جهان
محوه داستا په تماشا شی جهان
داباران نه دی چه پرتار اځی
(فنا) ته ستا په حال ژړا راځی

# ځاځکی

اوریدلی دغمونو له آسمان یم
دیتیم د تو دو اوښکو ترجمان یم
نورو ځاځکو سره کله‌چه‌یوځای شم
رانه‌جوړشي‌لوی‌دریاب‌سیلاب طوفان‌یم
زه‌په‌خوله دمچمچی‌کښي‌خوږ ګبین‌یم
خودمرګ ټکی‌په خولود ښا ماران یم
شي سمسور هرهغه‌ځای ته چه رسیږم
جل و هلو ته دژوند دوا درمان یم
دصدف غیږ ته چه‌ور سیږ م د ر شم
که دتیږی زړه ته ورشم‌لعل مرجان‌یم
خوږ شربت یم دخوږو په‌پیمانه کښی
خو دزهرو سره جوړ دمرګ اعلان‌یم
زوړ خمار یم دشرا بو په پیا له کښی
په رنګین مخ دخولو دناز باران یم
د نا کسو لبه ر خسا ر ه ځځیږ لی
زه دشرم او د حیا ا و بو پښا ن یم
آ بر و مندو سر ه ټکی د آ بر و یسم
له ا لما سه د (فنا) نظر کښي‌ګران یم

# د بوډۍ ټال

د طاؤس پشان رنگین دبوډۍ ټال یم
دجمال آسمان کښې زه ښکلی هلال یم
لوړ درشل زه د ښایست دنو بهار یم
دبهار د ښکلې ناوې ښکلی هاریم
زه رنگینه ښه تا بلو دطبیعت یم
یو شهکار اعلی تصویر دحقیقت یم
یا د مځکې ښکلې پېغلې ته پیزوان شم
یا دګلو غاړکۍ زه دآسمان شم
دلمر وړانګې زما غشي زه کمان یم
دژړا تفسیر د اوښکو ترجمان یم
دمرکز ټکي دانه محیط مې دام دی
ښکار مې زړه دمهرویانو خاص وعام دی
اتحاد او همر نګي دلمر رڼا کړم
تجزیه دباران خاڅکی اورسوا کړم
دژړا باران چه توی دمخ په لمر شي
بوډۍ ټال دیار په وروځو کښې ترسرشي
ښاپېرۍ زېړې اوشنې یاسرې اوسپینې
ماکښې ټال خوری فرشتې او ناز نینې
نارنجي، تور اوآبی زیړشین اوسپین یم
د(فنا) ګلابی شعر غوندې رنګین یم

# دشپونکی شپیلۍ



ز ه یم شپون اوپه‌دې ژوند مې افتخار دی
چه‌د خدای نبیانو کړی زما کار دی

زه لرم ښایسته پسونه وری او میږې
شنه واښه اغزی او بوټی مې گلزار دی

زه د جگو غرونو سر کښې ر مې پیایم
له پستی او ټیټ ژوندون نه زما عار دی

د تمام جهان شاهی به پرې ورنکړم
زما کور او زما گور همدا کوهسار دی

زه ښتن د لوړ همت یم پروانه کا
چه د تن جامې شکېدلی‌نس مې خواردی

پسونه وری او میزې ساتم له‌لیوانو
تنفرمې له‌ظالم‌اوله خونخوار دی

د حیوان خدمت کوم چه لوړ انسان یم
گوره رحم عاطفه زما شهکار دی

غزومه د( فنا ) خوږې نغمې زه
چه شپیلۍ مې خورا ډېرشیرین‌گفتار دی

✲ ✲ ✲

# دشفق سره خبرې

دسرو شونډو خولگی غوارې په غاړه کښې
سره لا سونه دې تا و شو ی له گردن بیا

له هیڅا سره وفا د دنیا نشته
د گرد و ن له لا سه مه شه گله من بیا

د صبا په هنداره کښې د ې بنودلی
د هیوا د د شهیدا نو سو ر کفن بیا

د سحر ستوری به ستا د داغ شاهد و ی
بې گناه خون د ې لیدلی یې غمجن بیا

دا د کو م دا ړې شبخون دی په تا شوی
که د ې لار د شپې نیولی کو م رهزن بیا

تا نا مو س د ز ما نې ا بتر لید لی
ده په سر و و ینو رنگینه ستا لمن بیا

د فلك چه زړ گی شین دی ( فنا ) پو ه شه
راضی شوی دی د کو م خوار په کشتن بیا

# میږی څه وایی.

مخلوقا تو کښې یو ډیر ضعیف حیوان یم
په قوت کښې زه د ټولو قهرما ن یم
کائنات دی اوس څلمی سپین ږیری کیږ ی
زه شاهد د پسرلی ژمی خزان یم
رسیدلی ما ته ډیر قوی همت دی
پروانه کا چه ظا هر کښې خوا رنا توا ن یم
آذوقه مې ټولومه لور په لو ر ې
ټینګ ثبات عزم لرم ډا ډه په ځا ن یم
خوښ مې ندی بې مو قع راحت عیشونه
ځکه تل مدا م د کار پسی روان یم
لوی نظام او حکو مت لرمه ځانته
زه یو غړی د لو ی کور او خاندان یم
متحد چه و ی ملت نه خرا پیږی
زه د دغې مفکور ې ښه امتحان یم



# دهیواد پسرلی

پسرلی راغی او شین بڼ او بوستان شو
گل گلزار ټوله دنیا تمام جهان شو

نوی کال نوی ژوندون نوی بهار دی
وخت دهاند زحمت او کار دهر دهقان شو

خبر راغی د وږمې په لاس چمن ته
چه د عیش او د خوښۍ کاروان روان شو

پسرلی شو په ښارونو کښې د زړو نو
حکومت د عشق او مینې بیا اعلان شو

د چمن شا ځلمی باغ کښې دربارو کړو
د بهار په سلطنت کښې بیا سلطان شو

د جمال قدرت هنداره د بهار کښې
ننداره د طبیعت ښکاره عیان شو

پسرلی ته د شاعر په نظر گورم
زما عقل دې ښایست لره حیران شو

تخیل او فکر والوتل دیدن له
په نندارو تازه روح دهر انسان شو

جمع جوش دی د یارانو هره خوا کښي
د مېلو او د عیشونو بیا دوران شو

بیا کاروان د رنگ او بوی گلشن ته راغی
هره خوا کښي د گلانو موج طوفان شو

قافلي د خو شبویی شولي رواني
بیا له عطر ولخیني ډک چمن بوستان شو

سم او غر بیا په خود روگلان ښایسته شول
بن ښایسته په ډول سینگار لکه خوبان شو

چه له خاورو نه راخیژي رنگ په رنگ گل
د حیات اوبو په څېر ورته باران شو

د غره غیږ کښي ارغوان دی پرېوتلی
د ښت او غرد ز مرد سره یک سان شو

لکه لعل د غره لمن کښي لاله بر ښي
لاجورد غوندي ښایسته او شین آسمان شو

چه مي وصل د جانان میسر ندی
بیا زما زړگی زخمی غاټول پشان شو

دا د یار په مخ خولي دی که شبنم دی
که پیاله کښي دلاله آب حیوان شو

تور بور ا د محبت له بر کته
په گلشن کښي د مرغانو قهرمان شو

په شنه سروه کښي توتی جاله کړه جوړه
په توصیف د پسرلی کښي ثنا خوان شو

بیا پا ختکه ناست پرڅانګه غزل وایی
او بلبل په شور فریاد او په فغان شو

په اوجره دفوارې کښې سازوشرنګ دی
ترانو کښې د آبشارګویا زبان شو

لورپه لورې دخوښۍ سازونه موج شول
په غزل نغمو و یلو سیند روان شو

د شمال په نری ساز کښې څنار ناخی
او قمری ورته له شوقه غزلخوان شو

ټولې څانګې خوشحالۍ نه کړی چک چکې
هره خوا کښې دښادۍ مجلس چالان شو

خاطرې مې د لیلی مجنون په یاد شوې
له وحشی ګلانو ډک چه بیابان شو

شکوفه د څانګې غوز ته ګوشواره شوه
نسترن په سپین څادر کښې بیا پنهان شو

نسیم واخیسته خولګۍ بیاله غوټۍ نه
د سنبل پیکی زما غوندې پریشان شو

د بلبل سره غاړی شوه د ګل څانګه
د مینو بیا پوره د زړه ارمان شو

ما په نظم د ګلانو امیل جوړ که
چه ګلانو ځینې ډک زما دیوان شو

د بهار او د غاټول شبنم صفت کښې
د (فنا) شعر بې ګمانه در مرجان شو



# اې پغمانه

روح پرو ر ه ستا هوا ا و ستا فضا د ه
ستا خوږه وږمه رنځونو ته دواده
وطنو الوته مدام اوسې سمسوره
دا زما د زړه ارمان او تمنا ده
پسرلی دې د کابل ثانی جنت دی
د ګلانو خزانه دې بې بهاده
په طاؤس که دې تشبیه کړم بشکلی بوټی
د بلبلو په کښې شو ر او وا ویلاده
په درو کښې د ې د سپینو زرولښتې
ستا خوږې او به ژوندون ته میسحاده
نکړې نازو تغافل چا ل وفریب هیڅ
د هر چاسره دې مینه په رښتیا ده
اې پغمانه له ماښامه تر سحره
و هر چاته ستا د وصل شپه وړیا ده
چه یې سیوری کښې د عیش دولت حا صل شی
ګڼو ځانګو کښې د ې جاله د هما ده
د خوبا نو پـه زړګـی کښې غـور ځنګونـه
په آسمان کښې د ې د ستوروښه نڅاده

لکه ډك جام د شراب له نشو ډك يې
تا کښې خوند د څوار لسمې شپې رڼا ده
لکه تاج يې د کابل پر سر لو پدلی
په هر ګوټ کښې د ې د ښکلو ناز خندا ده
ته د ښکلو زړو کښې ځای لرې پغما نه
توره خاوره د ې د مينې کيميا ده
ښاپيرې د هندوکش غېږ کښې پرته يې
چه ځلمی پېغله پر تا باندې شيدا ده
ښه مظهر ته د ښايسته جمال ښکلا يې
چه مينه ستا په حسن تما شا ده
ته دفتر د معرفت د لوی قدرت يې
هره تيزه دې شاعر ته يو دنيا ده
ستا په غېږ کښې ټول په عيش ونوش پراته دی
خو له ما سره د خوار غريب سودا ده
غېږ دې خوار غريب بلهای د پاره خلاص دی
ته دردمند يې فوارو کښې دې ژړاده
اې پغمانه ته همراشه تما شې له
چه په خونه د غريب کښې څه غوغا ده
چه دری ته دې درځم خيبر راياد شي
خدايزو بن بوستا ن پرما ماتم سراده
د ښايست په ننداړ تون کښې مې ليدلی
بقا نه لری دنيا آخر ( فنا ) ده

# بن

گلالي شود ګلانو په ګلزار بڼ
ښکلي شوی دخوبانو په انوار بڼ

د ګلانو بوټو څانګو پاڼو ونو
لری ښې ښې منظرې په هر کنار بڼ

د شید وغوند ې رواني او به سپيني
د الماس او درقطرې لری آبشار بڼ

بيا دزړه اوسپين ګلانوموج طوفان شو
هر طرف لری د سرو ګلو قطا ر بڼ

ترانو او زمز مو خوږو نغمونه
بيا ډك شوی د مرغانوپه چيغار بڼ

د خوشبوګلانو بوی چه ترسوزموشي
سلبو ی له هر يوچا ځيني اختيار بڼ

په غاړه ورځي دڅانګوسره څانګي
چه رسېږی پېغلتوب ته د انار بڼ

د ګلا نو املو نه په لمن کښې
د خوبانو تما شوته انتظا ر بڼ

دليدوشوق کښې به هر ګوره حيران شي
د قدرت په لاس ښايسته شود بهار بڼ

په جمال د طبيعت کښې محوه شوی
په ارمان د تما شو کړمه د چار بڼ

ننداروله يې هر څوك هيله من دی
لری ښکه په ز رګونو خريدار بڼ

د خوبانو په جفاکښې ځګرخون شوم
په ګوګل کښې مې لر مه دا غدار بڼ

رنځېدلـــې مينـــا نو ته تســـل دی
د زخمي زړګيو داغ ته لاله زار بڼ
ګل دګل له رويه رنګ اخلي ګلشن کښې
تازه کــېږی د خوبانو په ديدار بڼ
هر يو ګل به يې ضرور دزړه ټوټې وی
دګلرخ ماليار په لاس که شي تيار بڼ
چه مېلې شي دخوبانو په ګلشن کښې
روښـا نېږی د مخونـو په انوار بڼ
بل به نه وی داسې خوږ محفل ژوندون کښې
چه د مينې عيش او نازجوړ شي دربار بڼ
د غوټې زړګی به وچوی له حسرته
په خندا که مخا مخ شي د دلدار بڼ
ای دلبرې که ته راشې تما شې له
په قدم کښې به دې ولوېږی ناچار بڼ
په تعظيم به دې شمشاد څنار و لاړ شي
ستـادناز په تلو به وکړ ی افتخار بڼ
د ګــلا نو ټولې پا ڼې به شي تو يې
که د ناز په سترګوو ګوری دلدار بڼ
که څه هم لری خوررا رنګين ګلان ډېر
کله ستا پشان لري رنګين رخسار بڼ
توربا ڼه دې دنرګس په ګل مې وژنی
محبت را ته کـــرلی دی د خـا ر بڼ
( فنا ) شو ی د بنـــکلا په تما شو يم
ماجار کړی ستا له مخ نه دی هزار بڼ

## سترو

را ښو د لی طبیعت را ته هنـر دی
چه زرغونه د راستیه مدام ثمردی
د اخلاص و فا ثبات چه په کښي نشته
چګك قامت ګله قیامت ګله محشر دی



## چمن وایی

غوړولی چه مې شین بخمل خادر دی
هوازکړی مې خورانو ته بستر دی
لور په لوری لرم سور او سپین اوزیړ ګل
زمرد لعل و مرجان زما زیور دی
چه سمسور ګل وګلزاریم پسرلی کښې
خاکساری او تواضع زما هنر دی
ښکلوم به یې نازك بدن او پښې لاس
که په غېږ کښې زما پروت ښایسته دلبر دی
چه پایمال یم د خوبانو په قدم کښې
د خاین او ظالم سر مې تر نظر دی
باد راوړی د بېد یا دښت پیغامونه
یو (فنا) زما د زړه په درد خبر دی

PROPERTY OF ACKU
6185

## د سحر نسیم ته

بلبلانو ته ګلان واړه خندان کړه
باغ اوراغ دخوشبویی سره یوشان کړه
د غوټی غوز ته د مینې ترانه شه
ورنـه واخله صبرخیریې ګریوان کړه

چلېد وسره تا زه کړه د چمن ګل
دعیسی دم شه ژوندی مځکه بوستان کړه
د ګلانو وزمې وچ ډا ګو ته یو سه
په شبنمو یې اوبه ته یې ودان کړه
تا لید لی بها ر و نه خزا نو نه
له خزانه د ښایست خبر خوبان کړه
ا ې قا صده د مجنو ن د قبر سر ته
په صحرا کښې دلاله څراغ روښان کړه
دلېانو تنبلا نو قلمرو کښې
د جنبش اوحرکت کاروان روان کړه
ته زوړ خیال او فکر وبا سه سرونه
د تازه تازه فکرونو جوړ طوفان کړه
مړاوی شوی رنځېدلی روح تازه کړه
د دردمندوزړونودرداورنځ درمان کړه
غو ټۍ و سپړه د زړونو ا ې نسیمه
په الفت او محبت یې ښه خندان کړه
رابېدار کړه وینی ځلمیان خوب دغفلت نه
په تازه فکر ددوی د ماغ روښان کړه
د عبرت درسونه ورکړه له تېر ژوندنه
نوی کال شو نوی ژوند او کار اعلان کړه
نا پوهانو ته د پوهې پیغا م یو سه
دوی خبر په ژوند او حال ددې جهان کړه
د خوا را نو احوال یوسه دولتمن ته
بېایانو ته د دوی ژوندون بیا ن کړه
سترګې خلاصې کړه دښکلو او بدرنګو
په لیدلو کښې دحق بینا چشمان کړه

[stamp]

کړه سمسور د اتحا د میني گلونه
معطره د وطن بڼ ا و بوستان کړه
گلرخا نو ته غوټۍ دوفا یوسه
او تر سره د ( فنا ) دزړه ارمان کړه

* * *

## غوټۍ

نه یوازې بڼ کښې د بلبلو دلربا یمه
زه د خوږو شونډو و سره هم لږه آ شنا یمه
ډېر کوم نازونه په بلبل او په بورا باندې
مسته په نشه د غوړېدو کښې بې پروا یمه
پاڼې مې رنگینې اوتنکۍ دي د رخسارپشان
زه د ښایسته مخ دلوی کتاب تفسیرمعنا یمه
کله چه د ښکلو غوټۍ خولې ته نژدې کېږمه
زه د خوږوشونډو و د خو لګیو تمنا یمه
نن مې پسرلی د رنګ اوبوی دی خزانېږمه
نه هومره مغروره لکه ښکلو په ښکلا یمه
نن یمه غوټۍ صبا به گل اوبیا به مړاوې شم
زه د زمانې وفا بقا ته په سودا یمه
لوی دفتر دیوان د اتفاق دی هره پاڼه مې
دامې معجزه ده چه په پټه خوله گویا یمه
ډېر خمار نشه لری خندا دغوړېد وزما
څکه د خوږو رنګینو شونډو معما یمه
کله د شبنم میو ته جوړه میخا نه شمه
کله هم د سرو شونډو پیاله کله مینا یمه
ژوندمې دلګیری څګرخونې نه ترکیب شوی دی
اوس لا د مالیارنا محرم لاس ته په سودا یمه

کله چه نظر په بد نظر شم پائې پائې شم
زه ډېره معصو مه پاك لمنه با حیا یمه
شین بستر دپاڼو کښي اوڅانګوسره غېږ په‌غېږ
زه پرته په غېږ کښي د مجنون‌لکه‌لیلا یمه
مخ نه‌مې طواف‌کوی نسیم ترصباڅن پورې
ناڅي راته ستوری د سپوږمی په تماشا یمه
زړه‌مې د(فنا) پشان‌زخمي‌زخمي په‌وینو رنګ
مه‌غولېږې خلکو که ظاهره په خندا یمه

# اغزی

ښه خوراك یم د اوښانو په صحرا کښې
قافلې سره د ناز نعمت کاروان یم
زه ګل نه یم چه بلبل پرمامین شي
د خنجر غوندې تېره‌ښو پشان یم
بېوفا حسن مې نشته چه شم مړاوی
نه پابند د پسرلی نه د خزان یم
کله‌کله اوبه شوی یم په وینو
ښه رنګین او تازه ګل د بیابان یم
د شهید زخم کفن ګناهم بېد پاکښې
هم د ګل بلبل دمینې ترجمان یم
زه د ګل آب وحیا ساتم په بڼ کښې
تېره توره مې په‌لاس ښه نګهبان یم
ځګر خون شم چه په‌لوخو پښو چو خېږم
د پرخون لاس ښکلولو په ارمان یم
د دې خاورې سره مینه لرم زیاته
(فنا) سترګو د دښمن کښې مغیلان یم

# گل

مخ گلابشونډې غوټۍ اوسره رخسار گل
ستاپه مخ کښې مې لید لی د بهار گل
چه امیل دې دگریوان پرسینه پروت دی
ځگر خون شو له دې غمه دانار گل
گل اندامې خپله گل بې مخ د ی گل دی
خنداگل زلفې سنبل د نا ز رفتا ر گل
سور اوشین ا و زیړ په شنوپاڼو ښایسته ټول
هره خواکښې راشنه‌شوی دی بې شمار گل
رنگ او بو ی یې له خو با نـونـه زړه وړی
ډ پـر خوبا ن لری د حسن خریـد ا ر گـل
دا دگـل پـه حـق کښې لـوی ستم جـفـا ده
چـه لـه خـا نـگو ځینـې وشکوی‌مه الیار گل
چـه د رنـگ اوبـوی وفـا بقـایـې نشته
ځـگـه نـلـری خزان کـښې اعـتـبار گل
چه په سموغر ودښت کښې غاټول موج شو
د میـن د زړه د ا غونه شول گـلزار گل
د چشمانو په بادام کښې نرگس شین دی
د ا عجب چه ما لید لی د ی بیما رگل
تبسم سـره چـه شونـډې وغوړیږی
سوزوی می د سکروټو په انـگار گل
د(فـنـا) د پـاره ستـا حسن بهار دی
له رخسارنه‌به دې جارکړمه هزار گل



# د پسرلی گل

چــه غــوټۍ وه له نسیمه شرمیدمه
په شنو پاڼو کښی بلبل نه ښکیدمه
د نسیم په ټخنولو په خند ا شوم
د بلبل خوږونغمو سره آشنا شوم
چه پیاله راته له میوڅ ک شبنم کړو
نو بلبل مې لېونی دعشق په غم کړو
چه سحر نسیم خولګۍ اخلی له مانه
شنبم و الوزی هوا ته لــه حیا نه
په نشه د پیغلتوب چه و غوړېز م
نو بلبل سـره په مینه نه مړ ېــږم
پناه غواړم له ناپاکوستر گوخارنه
لکه وځېږی چه تورخط له رخسارنه
غوړېد ل مې د بلبلو ترا نې د ی
په کتاب کښې مې د مینې افسانې دی
ټول مرغان زما دپاره نغمې وایی
د خوښۍ غــزل دزړه ترانې وایی
زمارنګ ښایسته مخونو سره سیال دی
په ښه رنګ دزړونو وړل زما کمال دی
له وږمې نه مې ډیر ښه عطرسازېږی
په عطرونو مې خوبان واړه نازېږی
په خبره کښې مې دښه حسن رازونه
زما زده ده له خوبانو ډیر نازونه

* * *

زما بوی زما سیرت دی‌بنه خوشبوی یم
زمارنگ زماصورت دی بنه خوشروی یم
غوږ‌بدل ز ما سحر کښې خند بد ل د ی
لوږ‌معراج مې‌په‌وښتانو کښې ټومبل دی
د ښایسته نجو نو او پیغلو د سر تاج یم
نه سینګار ته لکه ښکلو ز ه محتا ج یم
دماغونوکښې‌مې‌بوی‌نشه پیدا کړی
د‌پیرخوبان‌مې‌دښایسته‌رنګ‌تماشا کړی
کله کله مې له نازه په‌ګرېوان ږدی
اوله‌خیاله‌کله‌زلفوکښې‌خوبان ږ د ی
کله پاڼې پاڼې شم د چالمن‌کښې
کله شمه دښو لاندې په‌چمن کښې
کله‌واخلمه خولګۍ له‌سرو لبانو
کله واخلمه بلاد تور چشمانو
کله ظلم ماله بوټې نه جدا کړی
په‌بازارکښې مې‌پیسو باندې سوداکړی
لکه ښکلې ښکلې پیغلې چه خرڅېږم
زه انسان‌نه یم له‌ننګه مړاوی کیږم
چه بلبل سره‌په‌مینه کښې رسوا شم
په‌خزان کښې پاڼې‌پاڼې له حیا شم
دبلبل سره مې لکه وفا نشته
(فنا) کیږم په‌ښایست کښې بقا نشته



# د بلبل نغمه

په‌عالـم کښې د گل میڼی کړم مشهوره
په‌مرغانو کښې له مانه رسوا نشته
د گـلانو له ښایست نه مې عبرت شو
چه په حسن او جمال کښې وفا نشته
په صو رت یې مه‌غولیږه خـزانیږی
گلالی مخکښې چه آب وحیا نشته
په ښه‌بوی عطر او رنګ و نه غولیږې
لباسی خلکو کښې صدق و صفا نشته
پروانه‌د گل طواف کړی شربت اخلی
زمانه کښې بی مطلبه آشنا نشته
د شبنم غـوټی له را زه‌عبرت واخله
چـه دنیا کښې بی ژړا نه خندا نشته
اې(فـنـا) شاعره‌دا زما نغمه‌ده
زه‌تـل وایم چه دنیا کښې بقا نشته

## دفواري ساز

ټیټ و پاس هسك و ژور به وی هر کله
څو دامځکه دا آسمان او داگردون دی
د عـروج سره‌هـر گوره تـنـزل شته
که‌آسمان ته‌هم څوك‌خيږی سر نګون‌دی

چه هر څومره ډېر ځکېږي پورته کېږي
د لوېدلو درد یې هو مره ډېر افزون دی
مدوجزر کښې مې ساز د زیر او بم شته
بې ژړا نه خندا نشته دا قانون دی
په دې مرګ اوژوند پروا مه کړه شاعره
چه (فنا) نه وروسته خامخا ژوندون دی

# بـــــاد




د بزګر غنم به بېل کرم له وښو نه
د کوڅو خاورې به پورته کړم هواته
زما ساز کښې ځا نګې پاڼې ونې نا څې
دا نغمه به غزومه بېنوا ته
بې پروا یم حقیقت نه نه تېرېږم
د مهېوما جرا وړمه بېدیا ته

مالیدلي ډېر عیشو نه بښې چر چې دی
د خانانو افسانې وایم ګدا ته
د خوارانو پیغامو نه راسره دی
رسوم یې د بډای عشرت سرا ته
یم استازی د یتیم کونډې له خوا نه
د ژړا احوال به وو ایم خندا ته

د مخونو حجابونه نقابونه
زه به یوسمه د اتول پلې دنیا ته
د خوبانو په کاکل به کوم لوبې
زه به لوځ کړم مه مخونه تماشا ته
دا چه ډېر لرم تلوار او زر تېرېږم
د (فنا) د شعر پیغام وړمه بقا ته

# دتوتی سندری



بند یم قفس کښې انسانا نو سره
له آزادۍ نه زړه ناکام دی زما
داستعمار زندان به کله‌شي ورا ن
د خپلواکۍ نعمت مرام د ی زما
بڼ اوچمن می تل مدام یاد پزی
زرغونی سروې ته‌سلام‌دی‌زما
چه په قیمت د آزا دۍ نه یی پوه
تاته دا خوږغزل‌حرام دی‌زما

د تربیې منطق ناطق کړمه ره
خوږ نغمو سره کلام دی‌زما
چه بی‌تعلیم‌اوجاهل پاتې نشیء
داشور فریاد سحر ما بنام دی‌زما
زه په تعلیم کوم خوږی‌خبرې
بی سوادا نو ته پیغام دی ز ما
چه نصیحت کوم ناپوه ته (فنا)
سخنورۍ کښې لوړ مقام د ی زما

## څانګه

دښکلابنایست‌دپاره‌بنه‌خدمت کړی☆ګلالی ګلان زماګلزارد پاره
پاڼه ، ګل،لرګی مېوه مې ګتوره☆شکوفه‌زمادبڼ‌سینګارد پاره
داغزی نښترمې‌لاس کښې‌دیٚ خوشکر
قدرت نلرم پرچا ګذار د پا ره
که‌توتې‌توتې‌په تبر شمه خیر دی۞چه‌جوړ یزمه‌جګدارغداردپاره
چه‌وچیږمه‌پژمی کښې‌خدمتکړم۞دغریب د نغری انګار دپاره

دفطرت دتعاون اومرستې لاس یم
دمېو ؤ نعمتارم دخو ار د پاره
اې (فنا) ته همپه رازدڅانګې پوهشه
پورته نکړې لاسدچاآزا ر د پا ره

# دحباب خندا

پیدا شوی د څپو له انقلاب یم
پهنړۍ کښې دژوندون پههیڅ حساب یم
حوصلهمې ډېره تنګه ده ژوندون کښې
زهطافت دڅپل سانلرم سیماب یم
ما توی زما بېینه د څاڅکو تیزه
دنېستۍ پهپیمانه کښې زوړ شراب یم
بې له مرګه مې خلا صوناو چاره نشته
د ژوندون بېړۍ ګیر شوی پهګـرداب یم
اې زاهده زه هم تل مدامثنا کـړم
د عدم د خانقا منبر محراب یم
دایوه خند ا زما د ژوند تعبیر دی
د دنیا وفا پاینت تهخوږ ځـواب یم
بې آبی می په ژوندون کښې نه خوښېږی
نو دمرګ تلا ش میډېر دی چهبېتاب یم
زړه می، چوی چه دمظلوم ژوندون را یادشي
دظالم دکور پشا ن خراب یم
ما نه واخلیء د بقاعبرتدرسونه
دژوندون دفلسفې بنه لـوی کتاب یم
ای (فنا) زماخبرې معمادی
که دی نه یم پېژ ندلی زهحباب یم

# شنه پاڼه

معرفی د لوی ښتن قدرت د پاره
یمه ژبه د ثنا صفت د پا ره
غوړومه شین څادرخپل په اخلاص زه
د ښا یسته و نو ښکلا زینت د پا ر ه
چه و چیړمه د اور د و زخ ته لمبه
اوس چه‌شنه یمه بوستان جنت دپاره
دڅادرلاندې‌مې‌سوړسیوری مدام وی
مسافر ته څو شېبو راحت‌د پاره
پسرلی کښې مې معلومه وظیفه ده
زه ر اغلی یم دکار خد مت د پاره
په لمن کښې ښې خوږې مېو ې لرمه
انسانا نو ته لذ ت نعمت د پاره
سمسور تیامی نتیجه د اتفاق ده
لوی کتاب یم دولس وحدت دپاره
پرده پوش یم د گلانو په چمن کښې
دحیا ، شرف، ناموس عفت د پاره
رانه جوړه زېړه‌پاڼه شی خزان کښې
د دنیا دژو ند (فنا) عبرت دپاره

☆ ☆ ☆

# د سیند د ځپو نغمې

زه ورو ورو قطرو ځینې پیدا یمه ✲ هم د اتحاد الفت معنا یمه
څاڅکو ته مې مه ګورئ په کم نظر ✲ وېره وکړئ مانه اوس دریا یمه
کله طوفاني انقلابي شمه ✲ وخت د سېلاؤ نو کښې بلا یمه
خپل هدف ته درومم عزم ټینګ لرم ✲ شپه او ورځ په چیغو واویلا یمه
لنډ مزل مې نه دی ځم بحرو نو ته ✲ زه د عظمت لو یه دنیا یمه
ساز لرم سرود لرم نغمې لرم ✲ ژبه د فطرت یمه ګویا یمه
داچه ولې ما نه ګټه نه اخلئ ✲ زړه مې ډك له غمه په ژړا یمه
مځکه دښت بېدیا زرغونولای شم ✲ بنه نعمت دلوی ښتن وړیا یمه
سور زرغون شي بڼ او ګلستان په ما ✲ د ر ددبیا بان ته ښه دوا یمه
زه مستې جذبې دسمسورتیا لرم ✲ رنځ د شاړو مځکو ته شفا یمه
ژوند ښنې ذېرو حوته قطرې زما ✲ هم د وچ ډاګو نو مسیحا یمه
زړه کښې مې دمینې درګوهر لرم ✲ وچو تورو خاورو ته کیمیا یمه
درس د ټیټ وپاس دی مدوجزر مې ✲ ساز د زیرو بم کښې په نڅا یمه
کارمېړ مختګ دی بېرته نګرځم ✲ لو یه مدرسه دارتقا یمه
وایمه سندرې د (فنا) د شعر ✲ ژوند د ساکښا نو ته بقا یمه


# زیړی ګلونه

معجزې ته خپل حیران یم ★ پسرلی کښې زه خزان یم
زه د شمعې د سرتاج یم ★ پتنګا نو ته معراج یم
کاپر ګل یم درپه در زه ★ پرستش کړمه د لمر زه
د ر نځور د درد شاهد یم ★ د مین د ر نګ قاصد یم
ښه رو ښنا نه مې رڼا ده ★ که دچاستر ګه بینا ده
د ښېر شم د ګلوبا غ یم ★ د غریب د کورڅراغ یم
زه په تور و شپو چمن کښې ★ یمه بله ډ یوه بڼ کښې
د (فنا) د شعر لمبه یم ★ زه د سر و زرو ټو ټه یم



# خوږ انار

زه خپله پیاله کښې خوږ شربت لرم
ډک او زخمي زړه له محبت لرم
څوك ندی خبر دزړه په حال زما
سور په وینو ښه رنګین سیرت لرم
نوم چه مې ابستلی په مېو ؤ کښې دی
زه د سرو د انو ښه جمعیت لرم
زه دانې دانې ګلګو نو او ښکو کړم
ځکه نو داغی داغی فطرت لرم
ډك چه‌مې زړګی دی له غمونو نه
زه دډکو زړو نو مصیبت لرم
پوښ کښې مې ځان ښه‌په آب ساتلی‌دی
زه له زما نې ځینې عبرت لرم
ځان مې پټ ساتلی په پر دو کښې دی
نه یمه بې شرمه ځان له پت لرم
ظلم په مظلوم زخمي ځګر کړمه
زه بې رحمو زړونه شکایت لرم
پوه شه ای ( فنا ) زما د زړه په راز
راز مې خپل ساتلی خوږ طینت لرم



# منې ته

نن مې بيا دخولې اوبه خوږې خوږې شي
چه په زړه دا ستا شيرين خوند ای منې شي
جوړ وی جشنو نه بڼ کښې شګوفه ستا
هم منظوره خاص وعام ته ده مېوه ستا
خوږ رنګين او درد لمند زړه لره شفايې
چه د زړو نو تقويه ته ښه دوا يې
د ورنګې ستا لرى د پرې معنى ګانې
د شاعر په ياد وې ماجرا ګانــى
د شاعر د زړه پشان ګلګون پر خون يې
درنځور شاعر پشان زېړ وزبون يې
په ظاهر که يې دور نګه زړه دې سپين دى
ښه دى پېژنــم باطن دې ډېر شيرين دى
ستا په رنګ کښې د خوښۍ او غم تفسير شته
ستا په غبږ کښې دعاشق معشوق تصوير شته
کم خونۍ له لاسه زېړ دى نيم بدن ستا
دمظلوم په وينو سور ښکاري کفن ستا
زېړه خوا دې د يتيم مخ ښيو زلى
ګلالى مخ دې رخسار د ناز ولى
بې‌پايانو نه زيات ښکاري را ته ننګ ستا
چه غافل له دى خوارانو نه زېړ رنګ ستا

کم دي نشی دا ښکلا او خو شبویی ستا
تل مدام دي وی مېو ؤکښی سرخ رویی ستا
شرق و غرب یاورځ اوشپه تیاره رڼا ستا
د شاعر نظر کښی لمر، سپوږمۍ دنیا ستا
که خوا رانو ته په لاس شی مربا ستا
په زړه پوري خریدار به وی (فنا) ستا



## سپین زر

د ښېنبی گله ربښتیا چه ته سپین زر یی
چه د تورو خاورو سپین ښکلی ثمر یی
زړه دي چوی ځکه له ډېره بی صبری نه
زمونږ مړی کفن نه درلود خبر يي
د خوارانو بلا یا نو پرده پوښ یی
د پاکی مظهر یي ځکه تاج په سر يي
پاك لمنه یی ظاهر باطن د ي سپین دی
چه د ستر پاك لمن او سپین څادر یی
چه لباس شی درنه جوړ درازهمرازشی
بیا دسپینو اندامو نو خوږ همسر یی
دسپین زړی خواردتن سپینه خامتایی
دسپین سر و سر کښی سپین ښکلی څادر یی
چه د ژمی سړو شپو کښی واوري اوری
د خوار انو بېوزلو تود بستر یی
خو افسوس چه زمونږ له لاسه ځي ارزا نه
چه وطن ته بېر ته راشی نو سره زر یی
زمونږ د مړی او ناموس کفن ټیکر یی
د(فنا) دستر گو تور او دزړه سر يي

# کیمیا بوټی

یو سپین ږیری بوډا ډېرضعیف نا توان و
د طمع سره ژوندون ورته ډېر ګران و
د اغزی د ښت و بیدیا سره یې کار و
تل مدام به د سپین ږیری دا روزګار و


اصطلاح سره بوډا با به خار کش و
غیرتی و با همت او زحمت کش و
لور او پری یې راواخیست لاړ ببدیاته
یوه ورځ بوټو اغز و پسی صحراته

په بېدیا کښې ښه ګرمی وه سره غرمه وه
کاڼی بوټی خاوره مځکه ښه تودوه
ځوځ اغزی بوټی یی ور پهل بېدیانه
یو لوی پېټی یی را جوړ که شا و خوانه

له ډېر کار او ګرځېد لو نه ستومان شو
د ځوانۍ قوت او عمر په ارمان شو
د پېټی سیوری ته کښېنا سته ستومانه
پیاز سکرك یی نوش جان که ښه پرېمانه

د اغز و پېټی په شار هی شو ښار ته
ما زیګر ستړی ستومان راغی بازار ته
په پیسو یی اغزی خرڅ کړه یو دوکان کښې
بریالی شو د همت په امتحان کښې

دې بوډا ته هر اغزی شو کیمیا بوټی
د همت په برکت د طلا بوټی
د (فنا) نظر کښې کار زحمت طلا ده
هر اغزی و ته ښه او بوټی کیمیا ده



# دغنموزی

د جنت د ښکلي ونې خوږ ثمر وم
د دنيا له شرو شوره بې خبر وم
د شيطان په شر اخته بشر آدم شو
چه دادومره سرگردان په ماعالم شو
د دانو د معما مې دا تعبير دی
چه انسان د نفس په لومه کښې اسير دی
کرل شوی زه په لاس د يو بزگر يم
زه د گرانې خاورې پاك او گران ثمر يم
په سختۍ خوارۍ تودوخه کښې د لمر بيا
رېبل شوی يم په لور دخوار لو گر بيا
د غذا په نامه هر وخت مكرم يم
دسترخوان دخوار بډاى كښې محترم يم
بياد فخر تاج په سر كښې د امير شوم
په بې طمعه او پاك لاس د يو فقير شوم
سلطنت کښې ښکلی تاج زه دباچا يم
په غربت کښې زه روزی د خوار گدا يم
زه هم خاورنه پيدا يم چه ممتاز شوم
د شاهانو د سرتاج او سرفراز شوم
چه منظور د ټول جهان شومه خاكسار يم
دانسان خدمت کومه چه تاجدار يم
بې نشان به ( فنا ) در کړی نشانو نه
كه بشر دپاره وکړې خدمتو نه



# د مچمچی ناره

د هر نیش د پاره ځان له خاصیت دی
نوش زما په نیش کښې ایښی طبیعت دی
د موذی رسېږی زیان دخیر خواه گټه
د لړم چیچل زما شیرین فطرت دی
سود وزیان دی د نیت پورې تړلی
نیك او بد دې د عمل دوزخ جنت دی
حد ای که څه هم دی د تولو خو نظر یې
په مسلم رحمت کافر باندې نفرت دی
د باران څاڅکی په هر ځای کښې یو شان وی
د لړم په نیش کښې زهر زما شربت دی
د هر طعم په طمع مه اوسه چه خوږ وی
تریخ او تریو می خوش یې خونده هم لذت دی
نفس مې پاك دی له مرداروچه گبین کړم
مادگل په عطر وکړی قناعت دی
په اخلاص مونږ وفادار دخوږ نظام یو
خپل باچا سره مو مینه محبت دی
که خپل حق او نیك مرغی غواړې تلاش کړه
د زحمت غیږ کښې آرام کړی راحت دی
اتفاق نه مو گبین دی پیدا شوی
که هوښیار یې تا ته لوی درس دعبرت دی
دژوندون معجون له غم خوږ ښې ترکیب شو
ځکه تریخ دی مرگ که څه هم حقیقت دی
چه ترخې خوږې خبرې تل مدام کړی
پښتنو ته دا ( فنا ) هم غنیمت دی

# چینه



داخلاص او صفا جام کښې خوږ شربت یم
زه په‌دښت‌بېد یااوغرو کښې‌لوی نعمت یم
ډ یرمې خو ښ دی د منګیو قطارونه
محوه کړ ی یم د پېغلو سنګا رونه
له روڼو خوږو او بو ځینی ډك جام یم
د خوبانو ښه همراز سحر ما ښام یم
شاوخوا کښې مې، د ښوپېغلو نخاوی
د خوږو خوږ و نغمو خوږه غوغا وی
پېغلې ګوری مخ‌زما په‌هنداره کښې
زه ګومه تما شی دې ننداره کښې
چه په سرو شو نډ ولا سو مقا بله شم
بیا نو ډکه د شرابو سره پیاله‌شم
زه د دوی د غېږ تصویر په‌غېږکښې اخلم
د ګړو زلفو ځنځیر په‌غېږ کښې اخلم
ښکلوم زه تل رنګین رنګین لاسونه
لندوم ښایسته مخو نه لباسونه
عاشقانو ته ښه ځا ی د انتظار یم
مینانو تو محل د پاك دیداریم
اوریدلی مې رازونه نیازونه
مالیدلی یارانې او ډیر نازونه
غاړه کېږی زما غاړه کښې یاران تل
مروراو پخلا کېږی مینان تل
ډکو ی چه په نخرو نخرومنګی خپل
زما خوله‌اوبه‌ا وبه شی خورم زړګی خپل
مانه لاړه شی پرمایې پروانشته
ای (فنا) په زما نه کښې وفا نشته



# منګی

چه له چینی نه ډکوی په نخر و یار منګی
نو ځای لری که چېری وکړي افتخار منګی
ته چه له نازه د مین په مرګ پروانلري
څنګه دي ایښی په تندی باندې دا خوار منګی
شوم د غمونو سره غېږ په غېږ له ډېره غمه
نن چه می ولیده په غېږ کښې د دلدار منګی
اې عزیزانو که زه مړ شوم زما په قبر کښېږدیء
یوه ټوټه د لحد نښه په یادګار منګی
خود به یې پېغلی په تخرګ یا په تندی ګرځوی
د تواضع په اور چه و سوزېد خاکسار منګی
او ښکې یې تویې شوې د پېغلې د سینې له پاسه
لږ معلو مېږی محبت کښې ګرفتار منګی
دې نه خبرؤ چه خوبان بی په تندی ګرځوی
نو ځان ستی که د سکرو ټوټو په انګار منګی
دسپینو لېچو په غاړه کښې ډېر عیشونه کوي
د زړه منګی دې راته ماتکه پدې کار منګی
زه د یوې تراخې خبرې په ازمان پاتی یم
ته ښکلو ې سرې خوږې شونډې وار په وار منګی
پېغلی مدام څکی په سروشونډو ستاله خولې نه او به
نو د شرابو پیمانې دې تانه جار منګی

زه دپستو نریو ملاؤ ډیر هوس لرمه
کاشکې زر خاوری‌شم چه‌جوړ کړی را نه یار منگی
هر ما زیگر دمستو پیغلو قا فله کښی (فنا)
بخت و طالع ته گوره ځنگه شو سرد ا ر منگی

# طبی نباتات

بیشکه لوی‌څښتن‌مو ډیر کریم‌دی♦♦دی حقیقی‌شافی‌اولوی‌حکیم دی
بې اوچمن کې جوړ روغتونو گوره♦♦دښت وبید یا کی درملتونو گوره
په ځینو بو ټو کښې تاثیر دشفا♦♦ځینو گلا نو کښې اکسیر د دوا
جام دگلونو کښې شهدو نه پراته♦♦داغزی نیشکې هم زهرونه پراته
په تورو خاورو کښې کیمیا وگوره♦♦په هریو بوټی کښې د واوگوره
دطبیعت غیبزدې روغتون دی فنا♦♦چه‌مرگ‌علاج‌ستادژوندوندی‌فنا

# چرس

د گلو بوی مې خما رونه لری ☆ عطرمې زهر آزار و نه لری
مضر یم ژوند او دصحت د پاره ☆ دښمن دننگ اوشجاعت دپاره
زه‌دخپل‌دوست سره دښمن‌یم‌مدام ☆ هریو آشنامی زرخرید دی غلام
زه عقل و ژنم د جنون د پاره ☆ بربادی غواړم د ژوندون‌دپاره
مانه پرهیزو کړی مضرنبات یم ☆ دژوند دښمن‌دبدبختی‌ممات‌یم
راشه‌که غواړې‌ننداړتون‌وگوره ☆ د لیونتوب دژوند افسونوگوره
زه‌په‌لوگی کښې ډیر کیفونه لرم ☆ هره غوزه کښې عالمونه لرم
چرسی‌پرواز کړی‌اندیښنوکی‌زما ☆ سپوږمی ته‌خیژی په‌نشو کی‌زما
ډیر و فاداره عملیان لرم زه
(فنا) لیلا یم لیونیان لرم زه



# یو وزی انگوریم


یو وزی انگور یم نمونه د جمعیت یمه
ډیر خوږ اتفاق لری دانې زما ملت یمه
ډکه پیمانه زما د مینې له خوږو ځینې
ټولو ته منظور د شیرینۍ په برکت یمه
بې مې میکده ده دشربت ډکی پیالې په لاس
ډیر بنه خوږ شربت لرم ساقی د طبیعت یمه
ډکه ده بنیښه زما خمار مستی او کیف ځینې
لویه مدرسه دکائناتو د عبرت یمه
ډوب به شې سیلاب کښې دخمار او د نشو زما
زه په مدو جزر د او بو کښې کیفیت یمه
تېرشه له خودۍ ځینې که غواړې معجزی زما
اوریمه اوبو کښې دمستۍ سوز حرارت یمه
کیف مې جوړوی وحشې حیوان اهلی انسان ځینې
یو څاڅکی اوبه لرم خو هومره لوی قدرت یمه
پاک ندی انسان چه جوړوی له مانا پاک شراب
اصل زما پاک دی دپاک خدای بنه خوږ نعمت یمه
جوړه میخانه اوخمخانه مې دزاهد کړه
زه هم یو مخلوق دپاک ښتن یم عبادت یمه
بنه په صدق خدمت کوی میوه مې انسانانو ته
زه شیرین ثمر دکار زحمت اوزراعت یمه

هلـــه‌په مزومزوخوندونو (فنا) کیږمه
کله‌چه‌دسرو شونډو و پیاله کښې خوږشربت‌یمه

## دام او دانه

دخیـالـونـوپـسرلـي وښـه هــوا وه
شیـن چمـن بڼو بوستان لویه فضاوه
په دې بڼ کښې‌ښې‌مېلې‌چړچې یارانو و
ښې مېوې خـوږې اوبه هر رنګ ګلان و و
یومارغه و په دې بڼ‌کښې ښـه خوشحا لـه
دمـاڼـي پشان یې ونو کښـې وه جا لـه
بوټـي غوښـې به ددې مـارغـه خـوراک‌و
خـوږې‌سرې وینـې اوبـه‌دده‌دڅښاک و
دامارغه به ګل خوږی نـورې دانـې هـم
بد لو لـي بي د خپـل بڼـو جا مـي هـم
یوزیرک صیاد راپیښ شو په دې بـڼ کښې
د مرغانو دام یې کېښود پـه چمن کښې
له قضا نـه د ا مارغه په دام کښې ګیرشو
د صیاد سره قـفـس کښې بیـا اسـیـر شو
د ا مارغه‌نه و خایـن او رشـوت خـوارو
دده بـڼ مـاڼـي ژوندون حـرام مـردارو
دا دانـه د خیـا نـت رشـوت دانـه وه
دخایـن دښـکـار د پـاره بهـانـه وه
دا صـیاد نـه و قـانـون او عـدالـت و
دا قـفـس نـه و زنـدان او اسـارت و
نه دانـه وه اې (فنا) نـه دام چلـقـي وې
د خا ین په د واړو پښو کښې‌زولنې و ې

# بندی کوتره



چه ستا د ښنو د زنګ آواز واو رمه
د زولنو مې شر نګهار یاد یږی
ته هم بندی یې دانسان په لاس کښې
ځکه خو نخوازه استعما ر یاد یږ ی
خدایز و کو تره ستا د حال په لید و
په جیلخا نو کښې مې احرار یادیږی
چه واورم ستا خوږ روح پروره غمبر
د محبو بې شیر ین ګفتا ر یا دیږی
چه ستا ر نګینې ښکلې ښې ګورم
نومې د ښکلی یار سنګا ر یادیږی
چه نوم‌دې واخلم اې نیک مرغه مارغه
د آزادۍ رو غې ر و یبا ر یادیږی
ته مې استا ځی شه پیغام مې یوسه
چه د (فنا) خوا خوږی یار یادیږی

## داوریا زمزمه

سپینه واوره (فنا) سپین او یاسره زروی
خوږلې طوفان سیلاب ،خطر ، ضرروی
دباران څاڅکی دخدای رحمت باله شی
څـه چه اوری خدای به کړی مقرروی

# داهم یو خیال

په مستو میو مسته مستی سره پیداشی
یو شین چمن ته راشی او شنه شی په خنداشی

وفا په وعده وکړي ز ما د زړه طبیبه
رنځور د انتظارته د درد اورنځ دواشی

کزې دګلو څانګی داستاپه احترام شی
ګلرخې ته مشغوله دګل په تماشاشی

دګل د بوټو شاته ما ځان وی غلی کړی
نا څاپه زه پیداشم لز شانتی وارخطاشی

باطن کښی بنه خوشحاله ظاهر کښی لز ملاله
په ناز او په غرور دېر زما لوری ته راشی

ته وګورې سپوږمی ته زه وګورم ستا مخ ته
زه هم په تماشاشم ته هم په تماشاشی

زه هیله در ښکاره کړم ته دېر و کړې نازونه
یو څو شیبې جنګی شی یو څو شیبې پخلا شي

حیران شم چه داځنګه یو ځل شی مهربانه
ستم ځینې جلاشی وفاسره آشناشی

د مینې په دنیا کښی سلطان اوملکه شو
خمار له بې خوبی نه رنګینه له حیا شی

سر کښېږدې زما غېږ کښی تسلیم دپاکی مینی
له سره ترقدمه یوه ټوټه و فاشی

ګل توی شی ستا په غېږ کښی له اوسی زما په غېږ کښی
زه ستاد عشق (فنا) شم او ته راته لیلا شی



# میوه

دبادام په خیر سوری ړونده دی
هغو سترگو کښی چه شرم‌وحیا نشته

د کور په کور کښی جوړ شیرین‌محفل دی
خو یاران د زمانې کښی وفا نشته

د گیلاس گیلاس کښی ښه خواږه شربت شته
خو دزړو پیالهٔ کښی صدق و صفا نشته

د فلك له لاسه شين دناك غمناك زړه
چه د نرخ بازار کښی‌ولی بقا نشته

د سرو شونډو په عناب صفر اما تیزی
دمین تندې‌ته بله‌دوا نشته

بهی نلری زیړرنگ ستا ای رنځوره
ناك منه د مخ اوزنې (فنا) نشته

## دپښتونخوا دغرونو آواز

زیړو سرو گلانونه لمن کښی گلستان لرو
دیربشه رنگین‌بڼ یونه مالیاراونه دهقان‌لرو

ښی ښی منظر ې شنه چمنونه اوباغونه‌ډیر
شاو خوا دروکښی دریابونه مست روان‌لرو

غټې جگې ونی ځنگلونه بوټی هررقم
گل لرو اغزی لرو غاټول او ارغوان لرو

دو بې کښې هم و اورې وی زمونږ په جګو خو کو کښې
ځکه پسرلی کښې مونږ هم ژمی هم خزان لرو
روح تازه کوی مدام هوا دسردرو زمونږ
پی‌غوندې ښې پاکې او خوږې اوبه روښان لرو
هر کله وی خلاص زمونږ دمینې غیږ کښې دیوته
هم د مستو پېغلو ښو ځلمیانو ډېر خوبان لرو
لوی لوی ګر نکونه مو دعزم او ثبات نښې
تل چه کوی لوبې د شاهین سره زرکان لرو
ډکه له هیبت و پرې نه هره مغاره زمونږ
پام کوه غلیمه چه زمرو غوندې غرڅان لرو
ینو د زمانې دتغییر او تحول شاهد
زړو کښې حکایات اوروایات ګوره بې‌شان لرو
ډېرې حادثې ماجرا ګانې مولیدلی دی
ډک د زمانې د تاریخو نو لوی داستان لرو
تیزې موټر اوسه دی رنګینی د غلیم په خون
خاورو لاندې ډېر دوطن لارکښې شهیدان لرو
ډک له‌سر لوړې او افتخار ځینې تاریخ زمونږ
هرې تیزې شاته مرچلونه نما یان لرو
ننګ او غیرت روزی شا مدام آب و هوا زمونږ
تاج یو مونږ د مځکې ننګیالی خلمی ځوانان لرو
درس د عظمت شان وشوکت دی جګواله زمونږ
نه یا ستو مغروره پرسر لاره د کاروان لرو
ګله به تر سره شی آرزو هوس ارمان زمونږ
زړو کښې ډک ګانونه‌دیاقوت او د مرجان لرو
داچه اوس د شعر په خوږه ژبه ستا یل شوی یو
مونږ ځکه (فنا) دردمند شاعر او ترجمان لرو

# خــــاوره

توریمه په رنګ خو سره لعلونه سره ګلان لرم
غېږ کښې د شیرینې او لیلا پشان خو بان لرم
یوسر کښې مې بې بوستان اوشنه شنه چمنونه دی
بل سر کښې مې وچ دښت وبېدیا اوشاړ ډاګونه دی
ځان که دې لږ خوار کړ زه به جوړ درته ګلزار شمه
زه که دې له یاده ووتم نو بـه خار زار شمه
لاس دې کړه تنها کې ځان خولې چه زه آباد شمه
وکړم پر مختګ نړۍ کښې د پر په ښه نوم یاد شمه
سر له مانه جار کړه ومې ساته له دښمن ځیغې
لاره کښې د ننګ ناموس و پر بزه مه کښتن ځینې
مـانـه پیدا شوی یـې (فنا) زه ستا جو هریمه
مـاتـه کم نظر مه کوه ګنج د سیم او زریمه

## تیږه

دخوبانو زړه په ما باندې تشبیه شی
لیونی قیس ته باران زما لیلاده
چه په سرو وینو ګلګونه شمه هله
له ګوهر اولعل نه جګه زما بهاده
دوطن په خپواکی کښې لرم برخه
مجاهد د پاره جوړ سنګر زماده

د خوارانو حال ته ځیر شه اې بډایه
چه یې ستا په دروازه کښې شور غوغا ده
که نه ستا ماڼې به رنګه کړمه پوه شه
چه ولاړدې دماڼی تاداو په ماده
زه په تله کښې مقیاس دکم او زیات یم
حق باطل کښې عدالت زما معناده
زمرد لعل و یاقوت زمانومونه
زماغیږ کښې لاجورد او هم طلا ده
(فنا) واخله مانه ډیر بنه کلکك درسونه
چه پوه مې د ثبات عزم دنیاده



# کوچی

له حیا او شرم و نازه ډکه پکه
لکه ناسته چه وی ناوې په ډولۍ کښې
دکمیس پاولی یې ستوری مخ سپوږمۍ وه
ځلیده او بریښیده توره کیږدۍ کښې
یا بې وریځ د تورکاکل په مخ خوره شوه
یا به وه کیږدۍ رڼسانه ډې سپوږمۍ کښې
بې حیاوزمه به ورغله کیږدۍ ته
ځان بې واچاوه دناز غاړه غړۍ کښې
په زړګي کښې یې اوربل دپیغلتوب و
ناقراره دځوانۍ په بې صبرۍ کښې
د هوس هیله ارمان سره مشغوله
تاویده را تاویده به په مستۍ کښې
شوه ناڅاپه د (فنا) له خیا له پټه
دکیږدۍ پرده یې ولویده سیلۍ کښې




# آسمانی پیغله

فنا

ته دشپی ★ ناوې یې دې لویې ★ فضا کښې
را روانه یې په ناز ★ ستورو نڅا کښې
لکه نجل ★ په ناز غرر و او ★ په نخرو ځې
ښه سنګینه په تکمین او په ورو ★ ورو ځې
هسې ★ ښکارې ★ د شا ★ عر دخیال نظر کښې
لکه پیغله چه ښکاره شي سره زر کښې
خوارغریب ★ شاه وګدادی ★ خریدار ستا
نه ولور دی ټاکل ★ شوی نه رو یبار ستا
کله بدر ★ او محاق کله ★ هلال شي
یا د سپین ★ مخ تورو وروځو ★ په مثال شی
د محاق څا در نه نیم مخ ★ را ښکاره کړې
لکه ★ پیغله پلو ★ لاندې ننداره کړې
د خمار او کیف ★ نه ډکی تما ★ شی ستا
خورې ★ بحر وبـــر فضا کښې پلو ★ شی ستا
کیفیت د پاکی ★ مینی ستا رڼا کښې
د ښایسته حسن ★ جلوې ★ دې تماشا کښې
د خوبانو ★ په مثال کله کېدای شي
د دلبر سره می سیال ★ کله کېدای شي
نه دې ★ پوزه نه دې ★ غوز ★ نه دې شین خال شته
نه دې یارغوندې ★ ښایسته ★ ښکلی جمال شته

★نه دي سري سترگی★خماري نه سور★شال شته★
نه★دي ناز او★دگزو گتو★کمال شته
خو★بیا هم دیار★تسل کرم په★دیدار ستا
د زړه★چاك گندم★د وړانگو په★هر تار ستا
نه ظالمه★ستمگره★نه خو★نکاره
له خوبانو★خیني ډیره★وفا★داره
د فراق شپه★کښي د وړانگي★سري لمبي★دي
★پلوشي دي زخمي★زړه نوته★برچي دي★
دو★صال دشپي★څراغ تر★صبحدم یي
دمینو★پاك محرم★همراز★همدم یي
اي دښه★حسن او★رمز و راز★خاوندي
اي دکیف★الهام تاثیر★اعجاز★خاوندي
معجزه دي★رابښکاره★شق القمر★کښي
ننوتي يي★گر پوان د★پیغمبر کښي★
★ستا له نوره★ډك دميو★پیمانه شي★
ستو★ری ستا د★مخ په شمعه★پروانه شي
ډکوي★ دخیبر★لار سپینو★شیدونه
جوړوي دکیمیا★بوټی له★اغزونه
تا لید★لی دمستا★نو پیما★نی دی
تالیدلی★د خوانانو★جبل خانی★دی
تالیدلی★په سرو وینو★شهیدان★دی
★تالیدلی★مظلومان او★ظالمان دی★
کله★پټه شي★د ورځو په★څادر کښي
یا★غاړه شي★دناروغ سره★بستر کښي
زیړه★ښکاره ئي★د شړشم دگلو★باغ یي
دغریب★د لارد خوار★دکور و★څراغ یي
ستا څراغ★د مظلومانو★سره مل★دی
★ستا رڼا★کښي نه رهزن★شته او نه غل دی★



اې سپوږمیه ته دسپینو زرو جا م یې
دغریب بله ډیوه تیاره ما بنا م یې
په یوه سترګه ټو ل ګورې یې حق بینه
ځکه یې د ټولو زړو نو کښې شیر ینه
دمجهو لو موهو ماتو لوی جهان یې
د بشر له شره اوس لږ په امان یې
شرق و غرب سره آ رزو ستا د و صال شته
ستا په سر نړۍ کښې شور او قیل و قال شته
اې سپوږمیه څوار لسمه شپه دې ستاوی
باوفا څوارلس کلنه دلربا وی
د نسیم د چلېد لو خوږ آواز و ی
په سا حل کښې داوبوخوندو رسازوی
نه جفا ژړا بیلتو ن نه انتظاروی
نه سوداغم اندېښنه وی نه ا غیار وی
پسرلی وی نیمه شپه وی او (فنا) وی
پاکه مینه کرشمې وی ناز خنداوی

# اوربشې

زه بېشکه دغلو د ا نو امیر و م
چه خوراك د هر مسکین او هر فقیر وم
مدر سه دپند عبرت مې افسانه ده
معما د قنا عت ز ما د ا نه
دانسا ن د نفس د پاره لوی غلیم وم
حیوانی شهوت دپاره لوی حکیم وم

ډیر تو پیر دی پید اشوی په جهان کښې
حیوانی فطرت غالب شو په انسان کښې
زه پخوا و مه خو راك د ا نسا نا نو
خوروی مې اوس انسان په بو دگا نو
دغوایانو دپښو لا ندې یم غوبل کښې
اوس د خروتوبره کښې پروت یم هر غوجل کښې
زماشر ا ب پیری کا فر په سیم وزر نن
مسلما ن را ته په کمه کری نظر نن
زه دفقر خاکساری ته کیمیا یم
(فنا) ر نځ د حر ص و آ ز ته ښه دوایم



# سپین ږیری مالیار

یارانې مې دبلبل او گل لیدلی ✲ ښې نغمې مې د مرغانو اورېدلی
صبا یې به کرځېدم دگلو خوا کښې
لور رمبی به مې هر کله وپه ملاکښې
له اوبونه مې اخیستې دصفا در س
له بلبل نه مې اخیستی دوفادرس
د سپوږ مې دشپو لذت مې نه هېرېږي
د خوږو مېوو نعمت مې نه هېرېږي
ما غاړې غاړې لید لی ډېرې خا نگې
ما لیدلی د سپوږ مې زرینې و ړ ا نگی
دلمر څرك په ژبه دا اقرارمې یاددی ✲ دشبنمو دنیستی قرارمې یاددی

زما لاسونو پښو کښې ډېر اغزي دي تللي
ډېر اغزي ماپه اغزيو دي ايستلي
بارانو نو ډېر ژړلي دي صحرا کښې
ما ځو ځان اغزي رېبلي دي بېديا کښې
چه ياد پېږي مې د اوښ او شاړ ډاگونه
د غاټول پښان مې زړه لري داغونه
د خوښې سره غمونه شته هر ځاى کښې
هم خندا ځانته ژړا لري په پاى کښې
د آبشار و فوارو فريا د ژړا ده
د غوټۍ د خوښې ژوند يوه خندا ده
ما ليدلي دي رنگين ښايسته گلونه
د خوبانو په اور بل ټټر لاسونه
مستې پېغلې گرځېدې به په هر بڼ کښې
مينان به غېږ په غېږ و په چمن کښې
گلو لاندې به وېدې وې نجونې ځوانې
په سينو به يې ډېرې د گلو پاڼې
اندامونه مې ښنار غوندې لړزېږي
د شبنم په څېر مې اوښکې راتويېږي
ضعيف شوى نور د سترگو کم مې زور دى
په څراغ د زړه کښې بل د مينې اور دى
د سپين گل پشان مې زيړه شوله سپينه
خو ځوانيزې زما پس ته پس ته مينه
پسرلى کښې (فنا) شين بڼ او بوستان دى
پرما و اوره اورى عمر مې خزان دى

# دشکوفې جشن

شکوفې دطبیعت شهکار هنریی
ته د څا نگو په افق کښې سپین‌سحریی
دماشوم په خبر دښاخ زانگو کښې زانگی
گوشواره‌یی ته‌دښکلې پېغلې څانگې
ستا په‌گل کښې‌دځوانی پېغلتوب نازنشته
په ښکلا کښې دې دعشق اومینې‌راز شته
تل‌په‌تاوی ښکلې څانگې‌مرمرېنې
لکه خیال سره غاړه وی لېچې سپینې
یې د ښتوپه سینې کښې مرغلرې
سپینې‌غاړې ستا امېل ته منتظرې
دگلپاڼو تویېدل دې یوطوفان دی
دگوهراو مرغلر وجوړ باران دی
لکه سپین زرلاس د څانگې نه‌تویېږې
د چمن دپېغلوبوړو پښو ته لوېږې
په تا جوړه بڼ کښې جشن چراغان شی
ډېر خوبان دې په‌ښکلا مین‌حیران شی
غوړوکې ته دښکلا سترمظهر یې
چه دپېغلې څانگې سپین‌ورېښمین څادریی
رسېدلی دښکلا په لوړ معراج‌یی
چه دناوې دلاس گل او د سرتاج یی
ته په څانگو کښې خیالی‌ید بیضایی
دبهار ناوې دسپینې‌خولې خندا یی
یادوې ژمی واورینی څانگی‌ما ته
ځیروې مې د غریب دتن خا متا ته

ښه لطیفه اوپسته‌یی لکه سپین لا س
ستا لمن نه‌لیږي غواړم د ګلچین لاس
پاك لمنه یی داغ نښته ستا لمن ګښی
کاشکي خښ شمه(فنا) ستا په‌کفن ګښی

# دارغوان مشعل

هره څانګه می د سرو ګلو مشعل دی
لکه سرې منګلی اوره ما کښی بل دی
زه دطور دغره داوریو ا نعکاس یم
په نکریزو ښه‌رنګین دقدرت‌لاس یم
خو دسرو نو کانو تیغ خنجر می نښته
دهنر لاس یم اغزی ضرر می نښته
پاڼه ګل می زمرد یاقوت مرجان دی
دشاعرخیال‌ته می څانګه د جنان دی
تل دغرو دامان په ماباندې رنګین وی
خونه زما لمن نا پاکه او ننګین وی
زما لمن‌ته دګلچین نا پاك لاسونه
نرسېزی یم دغرو بانګه نجو نه
تشبیه‌نکړې زماڅانګه په‌خونین لاس
یا دظلم په سرو وینو کوم ر نګین لاس
که می وپوښتی (فنا)څوك په قیامت کښی
لاس به پورته کړم ناحق خون شهادت کښی

# دوړ ښمو چنجی

دتوت پاڼه‌می خوراك‌دی‌چه‌نبات‌دی * دوړ ښموپه‌کفن کښی‌می‌ممات‌دی
دوړ ښموپه‌چنجی‌مشهورحیوان یم * انسانی‌خدمت‌ته‌جارز ماحیات‌دی

# د شبنم مرغلرې

اې شبنمه دلاله جام کښې سیماب یې
دغوټۍ پیا له کښې عطر دګلاب یې
ستا هنداره کښې صفا نور او ځلا شته
پر ځې ستا په تورې شپې کښې هم رڼا شته
ته دګل په مخ خولې د شرم او ناز یې
هم د آب هم د آبر وسپیڅلی راز یې
د شنبلې په تېره څوکه هسې ښکارې
لکه اوښکې وي ښځو باندې ولاړې
داغزې په نېش کښې جوړ دزهر افسون یې
په ساغر دګل کښې خوږ شربت میګون یې
هسې ښکارې د شنبلیو شین چمن کښې
پا ولې داره شین بخمل د پېغلې تن کښې
ته صدف یې دسپین غاښ خوله دغوټۍ کښې
یې دستور و ګوشواره غوږ دسپوږمۍ کښې
تورو شپو کښې دچمن شین فرش آسمان ستا
مرغلرې او الماس ږلۍ باران ستا
په نڅا او پټ راځې دشپې چمن ته
بیا په غلا صبایې وخته ځې وطن ته
ته دشپې تورتم کښې جوړ آب حیات یې
خودورځې بیا وزمه راز دممات یې
د نسیم په وزر الوزې آسمان ته
ته په لمر مین یې ځې د عشق جهان ته
ته چه والوزې دګل مخ شي بې آبه
غوټۍ واړه بې پردې شي اې سیمابه

له پستی نه‌ځې دعلوې پاك حرم ته
محوه کیږې له و جوده ځې عدم ته
د حیات اوبه اوهم دمرگ سراب یی
دفانی ژوندون تعبیر لکه حباب یی
ته روڼې اوښکې دستورو دژړا یې
درسته شپه ژاړې صبا ته بیا خندایې
ای‌شبنمه ته دتور وشپو تورتم کښی
ژاړې او ښکې تو یوې دچا په غم کښی
گوندې ستابه‌کوم‌یتیم کو ننه‌یادیږی
چه‌دې او ښکې په دې شپه کښی راتو یېږی
یابه ناوې دواده شپه کښی ژړ یږی
په‌الماس‌گوته‌سره زرجبری ودیږی
یې دآب ، آ برو ، حیا او صفا ټکی
ددرد مند شاعر د زړه د ژړا ټکی
ستا دانې زما د نظم آب و تاب دی
هر یو څاڅکی دې په در گوهر حسا ب دی
په گلپا ڼی کښی(فنا)تـه‌زوړ‌شرا‌ب‌یـې
دهنر اوشعر جهان کښی‌انقلاب یی

☆ ☆ ☆

## مرگ‌او ژوند

طبیعت‌په‌پسرلی‌کښی ژوندی‌کیږی
بیاپه ذوبی‌کښی پخپږ ی ځلمی کیږی
شی ر نځور دردمندزهیر اوزیړ خزان کښی
ژمی‌مری چه ډیر ناتوان‌سپین‌ږیری کیږی

# دبزگر چیغه



د وطن دبڼ نیا لګی نن ماشومان دی
روزل کېږي ددې خاورې آب هوا ګنبی
د توبی ژړاباران دخدای رحمت دی
خو د زهد فصل سوزی په ریا ګنبی
چه کرېږي هغه به رېبی لوی متل دی
دحرام تخم حاصل، حرام زنا ګنبی
مزرعه به می سمسوره تل مدام وی
د نیکی تخم کرم دزړو بېدیا کښی
دنیت اخلاص اوصدق احسان بزګریم
دوفا زړی شنیدم دعشق دنیا ګنبی
دژوندون حاصل څه نه دی بی عمله
د بقا درمن به واخلم په (فنا) ګنبی

## خپشاوه

خپشاوه که داادب بڼ په قلم شی
نوبه هله شین زرغون د زړوحرم شی
ای ځلمیه د هیواد دبڼ مالیاره
باخبروه داغزیو له آزار شه
خپشاوه کړه له محیطه خنهوخارتول
چه وطن شی بڼ بوستان ګل وګلزار تول

ښایي پرې شي د خو درو بوټو سر ونه
چه یي ګټې ځینی ډېر وی ضررو نه
دنهضت بڼ و بوستان ښه پاك صفا کړه
خطر ناك اومضر بوټی ټول امحا کړه
ته کړه پاکه د هیواد دپیشرفت لاره
د ظالم او د خاین له خس و خاره
په برچه که خیشاوه د ظلم بڼ شی
(فنا) هله به سمسور باغ د وطن شی



# تمباکو څه وایي

زما پانه د چلم د خولی تاج دی
په لمبو کښې سوزېدل زما معراج دی
په مینلیی د یارا نو انجمن کښې
لیرم د پیر خرید اران په هر وطن کښې
د لیو ګیو په حلقو کښې می بندیان شته
زولنو کښې می پابند ډېر عملیا ن شته
که څه هم مضر دښمن زه د روغتیا یم
د دوکتور طبیب حکیم د رنځ دوا یم
زه د ښمن یم د هغه چه زما مل شی
کوچنیان زما عمل کښې بد عمل شی
له سیروشونو وخو لکی اخلم چه سیګار یم
پاکی خولی مردار وم که زه نصوار یم
که څه هم زما لوګی نا پاك حرام دی
خو عاقل آزاد انسان زما غلام دی
بد لوم زر په ایرو دامی کمال دی
سوزوم پیسی دخلکو دامی چال دی
لوبی کړم په هوش او فکر د انسان زه
دبشر تمیز (فنا) کړمه حیران زه



# غاټول

د صحرادوچوشونږوترجمان یم
غم شریك دلعل یاقوت اودمرجان یم
د ښتونوتما شاکړم ځگرخونه
دوطن غم په سر وینو کړم گلگونه
زه له باغ اوله باغوانه بې نیازیم
د خونخواروډر نگینو پنجورازیم
په ښایسته مخ بد نظر په زړه زخمي کړم
داغ په زړه دوچ ډاگونوبي آبیکړم
زه دسرو ستر گوداوښکوپیاله یم
په سرو وینو لیکل شوې مقاله یم
تورو خاوروته بهورکړمه سره وینه
په هوس دسرسبزۍ په ډېره مینه
دلیلی د ښکلی مخ سره همراز یم
دمجنون داغي لړمون سره دمسازیم
خال په ښکلی مخ داغی کړم په ځگر زه
د مین د زړه له حاله یم خبر زه
دشهید دقبر سرته بل څراغ یم
دمزار په شاوخوا یې رنگین باغ یم
دزړه داغ مې درنگین زخم تعبیر دی
زما سوررنگ دشهید دروح تفسیر دی

نا روا خولگی له سرو شونډو گلگون کړم
تو یول دبیگناه خون ځگرخون کړم
د(فنا) دزړه د زخم لوی شاهد یم
درد مندانو ته دده درنګ قاصد یم



# قفس

بېگناه ته پاك محل جنت نشان یم
گنهگار و ته دوزخ په دې جهان یم
که مظلوم او بېگناه په ما کښې بند شی
نود دوی د او سېلو آتش فشان یم
د قاتل زانی رهزن او غل د پاره
زه دقید او اسارت نوی جهان یم
یو تور تم یم د الزام په قلمرو کښې
دخاین ژوندی جسد ته گورستان یم
لرم شرتک دزولنو ځنځیر هرگوټ کښې
دخونخوار ظالم دپاره ښه مکان یم
سلطنت یم د یوسف غوندې صادق ته
دخلیل پشان خلیل ته گلستان یم
په تفسیر دمعمامې (فنا) پوه شه
پېژند نه کړمې غوارې زه زندان یم

★★★

# زرکۍ ته



تا ته چه گور مه بهار یاد یږی
د پښتونخوا مځکه کوهساریا دیږی
کله چه گورم د زرکانو ډلې
د مهر یانو سره ښکاریا دیږی
چه ستا د ناز او نخرو تگ ته گورم
هله د یار د نازرفتاریا دیږی
کله چه ستا ښکلی څېره و ینمه
نو د محبوبې تش دیداریا دیږی
چه ستا نغمې مې غوږ ته ور سیږی
خوږی خبرې د رو یبار یا د یږی
چه په قفس کښې ستا سندرې و اورم
د گنهگار و استغفار یا دیږی
ته چه خوږې مستې بد لې وایې
نو مې (فنا) شیرین گفتار یا دیږی

# گلچین شاعر


د جمال شا ✲ عریم ✲ ځم د خیال چمن ته
✲ ✲ ننو زم بیا د حسن ا و غېږ گلشن ته
ټو ✲ لومه د ✲ ښکلا ښایسته گلان زه
✲ ✲ ✲ جو ړو م ځانته د گل نوی جها ن زه
✲ دپستې ✲ سینې باغچه کښې گل گلزاردی
✲ د نجلۍ په غېږ کښې موج گل د انار دی
په ✲ ر نگینو لبا سو نو آ ر ا سته د ه
✲ د وصال شپه کښې د گلو گلد سته ده
نرۍ ملا ✲ یې گلدسته د سپینو گلو
✲ د ✲ سر و گلو گلد سته یې په منگلو
دا پرسر با ندې ✲ هم ایښې دگل تاج ✲ دۍ
د ✲ دې وصل د ارمان آ رزو معراج د ی
زې دستر گو په نرگس ✲ کښې شراب څمگه
گلا لۍ ✲ مخ نې عرق د گلا ب څکمه
✲ دسروشونډوله گلزا ر یې ✲ غو ټۍ ا خلم
دې غو ټۍ نه ✲ ښه شیر ینه خو لگۍ ✲ اخلم
✲ چه د نـاز د نا زبو په بوی ✲ مستېږم
بیادعطر و بوی جهان ✲ کښې محوه ✲ کېږ م
✲ زه ( فنا ) شاعر یم عشق زما گلشن ✲ دی
زه بلبل یم د گل ✲ پاڼه مې کفن دی

# خزان

جسم اوروح ماده معنی یو ځای حیو ا ن شو
عقل او نطق ور سر ه یو ځا ی شو انسان شو
دځوا نۍ ا و پېغلتو ب ژ و ند و ن بها ر و
چه دمرگ چپاو پر ې راغې بیا خز ا ن شو

(c) ketabton.com: The Digital Library





PROPERTY OF ACKU 6185

محمد جان (فنا)

## پای

څونږې کښې دژوندون او مرګ نظام شته ☆ دبقا هیله (فنا) سره مدام شته

چه آغاز انجام دې نشته هغه ته یې ☆ بل ضرور دهر آغاز پسې انجام شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کور ودانی

د ښاغلي قندهاري د دولتي مطبعې د رئيس له هغې ښې او په زړه پورې همکارۍ له کبله چه ددې کتاب د چاپولو په متعلق يې له ما سره کړېده خپله شکريه او دزړه له کومې امتنان د نمانځنې سره هغوی ته څرګندوم.

د ښاغلي چراغعلي دحروفچينۍ مدير، ښاغلي ګلاب الدين مامور او د محمدرفيق او سخيداد کارکوونکو هغه زيار چه دوی ددې کتاب په ښکلي کولو کښې ايستلی دی ديادونې اوقدر وړ بولم او د دولتي مطبعې دټولو کارکوونکو بريالیتوب غواړم «فنا»

# د (فنا) نور کتابونه

١:ـ ګلبرګها — دفارسي نثرونومجموعه
٢:ـ د اورلمبې (نظم)
٣:ـ چارګل (نظم)
٤:ـ پتنګ (نظم)
٥:ـ دشاعرخيال (نثر)
٦:ـ فريادی شاعر چاپ شويدی

## سمون ليک

| مخ | کرښه | ناسم | سم | مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| الف | ١٠ | تی | ته | ۵ | ٦ | زړو | زوړ |
| د | ٤ | غوړليدلی | غوړېدلی | ی | ٣٥ | رزښت | ارزښت |
| د | ٨ | پشرلی | پسرلی | ١٦ | ١٣ | نندراه | ننداره |

# DE
# SHAER PESARLAY
## BY
## M. JAN (FANA)

APRIL 1961

KABUL

دولتی مطبعه

کابل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**